جمعية خدمة المحتوى
الإسلامي باللغات


منهج الصف الرابع الابتدائي، التوحيد والفقه

بشتو

پښتو

تعليمي نصاب څلورم ټولګی

توحید او فقه



ح جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات ، ١٤٤٧ هـ

جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات

منهج الصف الرابع ابتدائي التوحيد والفقه - بشتو. / جمعية

خدمة المحتوى الإسلامي باللغات - ط ا. - الرياض ، ١٤٤٧ هـ

١١٥ ص ؛ ..سم

رقم الإيداع: ١٨٠٣٤ /١٤٤٧

ردمك: ٤ -٢٨٤-٥١٧-٦٠٣-٩٧٨

درسي نصاب

توحيد

سويه (څلورمه)

لنډه کتنه:

دا علمي مضمون په سعودي عربستان کې د زده کونکو لپاره د تعليمي نصاب اصلاح شوی لنډيز دی چې په بېلابېلو سويو ويشل شوی، په دې کې يو مضمون د توحيد برخې ته ځانګړی شوی چې دولس (۱۲) سويې لري؛ هغه اړين موضوعات او مسائل چې په څلورمه سويه کې راوړل شوي په لاندې ډول دي: د مخلوقاتو د پيدايښت تر شا حکمت، د عبادت د تعريف او ځينو ډولونو، سربيره د توحيد ډولونه، د هر ډول لپاره يې دلايل او تر څنګه يې د طاغوت معنا، اشکال او ډولونه تشريح شوي دي.

مقدمه

الحمدُ لله الذي علَّم بِالقَلَمِ، علَّم الإنسانَ ما لم يَعْلَم، والصَّلاةُ والسَّلامُ على النَّبيِّ الأُمِّيِّ الذي بعثه اللهُ لِيُخرِجَ النّاسَ مِن الظُّلمات إلى النُّور، أمّا بعد:

د الله تعالى توحيد تر ټولو ستر واجب او پرې پوهه تر ټولو عزتمند او غوره علم دی، دا هغه بنسټ دی چې د عملونو صحت او قبلیدل پرې بنا کیږي، او بندګان ورته تر هر څه ډیره اړتیا لري؛ ځکه زړونو ته ژوند، نعمتونه او ډاډ نشته پرته له دې چې خپل رب، معبود او خالق د هغه په نومونو، صفتونو او افعالو سره وپیژني، همدا رنګه په دین کې پوهه، د عبادتونو د ادا کولو طریقه لکه: طهارت، لمونځ او داسې نور د نیکمرغۍ نښې او د دې علامه ده چې الله جل جلاله خپل بنده ته د خپر اراده کړې ده، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: « مَن يُرِد الله بِه خيراً يُفقّهه في الدِّين ».((د چا لپاره چې الله تعالى د خپر اراده وکړي، هغه ته په دین کې پوهه ورکوي)) [1]

نو له همدې کبله د ټولنو د پوهاوي بنسټ د توحید د مضمون په تدریس ټینګار کوي، تر څو زده کوونکي په سمه عقیده وروزل شي او په دیني چارو کې روښنایي او بصیرت ولري.

او د توحید د نصاب پدې څلورمه سویه کې زده کوونکي د مخلوقاتو د پیدایښت په حکمت، توحید او د توحید په ډولونو او هغه څه پوهیږي چې تر هر څه د مخه الله جل جلاله په خپلو بندګانو فرض کړي او د طاغوت سرونه (مشران) وپیژني.

او د مضمون ماهیت ته په کتلو د هر لوست لپاره په لنډه او واضحه توګه ځانګړې موخې ایښودل شوی، په موضوعاتو کې یې تدریج، او د دې او مخکنیو موضوعاتو تر منځه تړاو په پام کې نیول شوی، سربیره پر دې د هر لوست لپاره پوښتنې او د ښوونکي لپاره لارښوونې شته چې په رڼا کې یې د تاکل شوو موخو تر لاسه کولو ته لاره هواریږي.

۱- بخاري په کتاب العلم؛ باب من يرد الله به خيرا يفقه فى الدين کې په ۷ شمیره راوړی دی.

ښوونکي ته ځيني سپارښتني:

۱ الله جل جلاله ته اخلاص د عمل د قبليدو شرط دی، نو عمل دې خاص د الله جل جلاله د رضا دلاسته راوړلو لپاره غنيمت وګڼه چې د دنيا او آخرت ګټه دې په برخه شي.

۲ امانت ساتل د خلاصون لاره ده، او ته ای - ښوونکي وروره - د اسلام له سنګرونو څخه پر يو سنګر ولاړ يې، او د مسلمانانو د اولادونو په عقلونو او فطرت امانتدار يې، نو د امانت ساتنه وکړه چې په دنيا او اخرت کې کامياب شې.

۳ د توحيد د مضمون زده کړه له غوره عملونو څخه ده، نو له دې پرته د بندګانو لپاره سمونتيا نه شته او نه د دنيا له خواری او د آخرت له عذابه د توحيد له پېژندنې پرته خلاصون شته، نو د زده کوونکو په نفسونو کې د سمې عقيدې په کښت کې زيار وباسه، او د هغو اخلاقو او لوړو ارزښتونو لپاره ريښتينی ترجمان اوسه چې بلنه ورته کوې.

۴ د الله تعالی د وحدانيت او د هغه د قدرت د بيانولو لپاره له حالاتو ګټه پورته کړه،(د بيلګې په توګه) کله چې ورېځې د اسمان په زړه راخپرې شي، بريښناګانې وپرقيږي او (په اسمان کې) غرارى شي، بارانونه و اوريږي او داسې نورې پېښې په مسلمانانو کې د ايماني خوځښت لپاره غنيمت وګڼه.

د مثالونو په ورکولو سره د موضوع اسانه کول او لوست ته له واقعیت سره تړاو ورکول له مضمون سره د زده کوونکو د مینې په پیدا کېدلو، د مضمون زده کولو او پرې عمل کولو کې ستر رول لري او په پای کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې وینا سره زیری درکوو چې فرمایي:

٥

« إنّ ممّا يلحَق المؤمِن مِن عَمَلِهِ وحَسَناته بعد مَوْتِه عِلْماً علَّمَه ونَشَره ».[٢]

«د مؤمنانو له عملونو او نیکیو څخه چې کوم شی له مرګ نه وروسته هغه ته رسیږي؛ هغه علم دی چې زده کړی او خپور کړی یې دی».

وصلَّى الله على نَبِيِّنا محمَّد وعلى آله وصَحْبِه وسلَّم .

٢- ابن ماجه په ٢٤٢ شمیره روایت کړی.



د موضوعاتو لړليک:

موضوع	مخ
لومړی لوست: مخلوقاتو له پیدایښت څخه حکمت.	٦
دویم لوست: عبادت.	٩
دریم لوست: توحید او ډولونه یې.	١١
څلورم لوست: د ربوبیت توحید .	١٤
پنځم لوست: د الوهیت توحید.	١٨
شپږم لوست: د أسماء او صفاتو توحید.	٢١
اووم لوست: بندګانو ته د الله تعالی پیغمبران.	٢٥
اتم لوست : لومړی هغه څه چې الله تعالی په خلکو فرض کړی دی.	٢٨
نهم لوست: ریښتینی ایمان.	٣٠
لسم لوست: شیطان ترټولو ستر طاغوت دی.	٣٥
یوولسم لوست: د الله تعالی له نازل کړي (شریعت) پرته په نورځه فیصله کول	٣٧
دولسم لوست: چا چې په غیبو د پوهېدلو دعوه وکړه او یا پرې راضي شو چې خلک یې عبادت وکړي نو هغه طاغوت دی.	٣٩
دیارلسم لوست: مؤمن باید په طاغوت کافر شي.	٤٣

عنوان: درسي نصاب، فقه، څلورمه سويه	مخ
څلورمه سويه	٤٧
سريزه	٤٧
لومړی لوست	٤٩
دويم لوست	٥٤
دريم لوست	٥٧
څلورم لوست	٦٠
پنځم لوست	٦٤
شپږم لوست	٦٦
اووم لوست	٦٩
اتم لوست	٧٣
نهم لوست	٧٩
لسم لوست	٨٥
يوولسم لوست	٩٤
دولسم لوست	٩٧
ديارلسم لوست	٩٩
څوارلسم لوست	١٠٤
پنځلسم لوست	١٠٧

لومړی لوست د مخلوقاتو له پیدایښت څخه حکمت

الحَمْدُ للهِ وكَفَى، وسَلامٌ على عِبادِهِ الذين اصْطَفَى، أمّا بَعْدُ :

پوه شه الله دې پر تا رحم وکړي چې الله تعالى مخلوقات د دې لپاره پیدا کړي چې عبادت يې وکړي او هیڅ شرک پرې ونه کړي.

دلیل يې د الله تعالى دا قول دى:

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾

«او ما پېريان او انسانان نه دي پيدا کړي مګر د دې لپاره چې دوى زما عبادت وکړي».[الذاريات سورت: ٥٦ آيت].



د لوست لاړښوونې:

تر ټولو لوى مقصد چې پېريان او انسانان ورته پيدا شوي، هغه د يو الله عبادت دى.

انسان په دې دنيوي ژوند کې له کوم هدف پرته نه دى پيدا شوى چې دې يې د لاسته راوړلو هڅه کوي.

- څوک چې د عبادت کومه برخه له الله پرته بل چاته وکړي لکه: دعا او قربانى، نو له الله سره يې شرک وکړ، او که په همدې مړ شو نو سزا يې جهنم دى او جنت پرې حرام دى.

الله تعالى فرمايلي:

﴿إِنَّهُ مَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ ۖ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ﴾

(بېشکه خبره دا ده چې څوک له الله سره شريک نيسي، نو يقينًا په هغه باندې الله جنت حرام کړى دى او د هغه استوګنه اور دى او د ظالمانو لپاره هيڅوک مرستندوى نشته).[المائدة: 72].



پوښتنې:

۱- د مخلوقاتو له پیدا کولو څخه حکمت څه شی دی؟ او دلیل پرې څه دی؟

.....

.....

.....

.....

۲- په دې ژوند کې خوراک او څښاک ضروري دي، نو ایا مونږ د دې لپاره پیدا شوي یو؟

.....

.....

۳- لاندې تش ځایونه ډک کړئ:

خوک چې له الله پرته د بل څه عبادت وکړي هغه ته ..... ویل کېږي او سزا یې ..... ده.



پوښتنې:

۴- د لاندې فعلونو حکم څه دی چې له الله پرته بل چا ته وشي:


لمونځ

دعا

ویره

ذبح

طواف



عبـــــــادت ...

عبادت: د هغو ښکاره او پټو ويناوو او کړنو لپاره يو جامع نوم دی چې الله جل جلاله يې خوښوي او پرې راضي کيږی.

- **او د الله تعالی عبادت د هغه په اطاعت سره کيږي؛ داسې چې اوامرو يې پر ځای شي او له نواهيو څخه يې ډډه وشي.**



د لوست لاربښوونې:

عبادت ډير ډولونه لري: ظاهري عبادتونه لکه: لمونځ، دعا، ذبح، د مور او پلار سره نيکي، خپلوي پالنه، د نيکۍ او تقوا په کارونو کې له يو بل سره مرسته، د الله په لار کې جهاد، امر بالمعروف او نهی عن المنکر، او باطني عبادتونه لکه: محبت، خوف، ويره او هيله مندي.

ټول عبادتونه بايد د الله جل جلاله لپاره وي.

﴿وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ ۚ وَذَٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ﴾

(حال دا چې دوی ته حکم نه و ورکړی شوی مګر په دې چې دوی دې د الله عبادت وکړي، په داسې حال کې چې دين (عبادت) دغه (الله) لره خالص کوونکي وي (او) حنيفان (له باطله حق ته راګرځېدونکي) وي، او (د دې چې) دوی دې لمونځ قايموي او زکات دې ورکوي او همدغه ډېر محکم دين دی). [البينة سورت: 5 آيت

د حنفاء معنا: له ټولو دينونو څخه د اسلام دين ته مائل.

عبادت کوونکی هغه څوک دی چې د الله تعالی د احکامو پيروي وکړي او له ممانعتونو څخه يې ځان ساتي.



پوښتنې:

۱- د ظاهري عبادتونو لاندې په کربنې کش کولو سره يې له باطني عبادتونو څخه جلا کړي:

حج

توکل

دعا

لمونځ

ویره

د الله په لارکې جهاد

۲- لاندې تش ځایونه ډک کړئ:

أ- عبادت .....

ب- د الله تعالی عبادت د هغه د ..... پر ځای کولو او له ..... څخه يې په ځان ساتلو سره کیږي.

توحيد او دولونه يې ...

توحيد

په عبادت سره د الله يووالی دی او دا د پيغمبر انو هغه دين دی چې هغوی پرې الله تعالی خپلو بندګانو ته راليږلي دي، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ﴾

(او يقيناً مونږ په هر يو امت کې يو رسول ليږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ) [النحل سورت ٣٦ آيت].

او طاغوت:

هر هغه چاته ويل کيږي چې له الله پرته يې عبادت وشي او هغه پرې راضي وي.

د لوست لاړښوونې:

انسان هغه وخت موحد کيدی شي چې د عبادت په ټولو انواعو کې الله تعالی په يووالی سره ومني.

دا پر خلکو د الله تعالی لورينه ده چې د هغوی د لاړښوونې او ورته د نيغې لارې د ښودلو لپاره يې رسولان راليږلي دي.

ټول پيغمبران توحيد ته بلنه او له شرک څخه منع کول کوي.

توحيد او ډولونه يې ...

او توحيد: درې ډولونه لري؛

د ربوبيت توحيد	د الوهيت توحيد	د اسماوو او صفاتو توحيد





پوښتنې:

۱ـ توحید تعریف کړه.

.....
.....
.....
.....
.....
.....
.....

۲ـ د توحید ډولونه وښایه.

.....
.....
.....
.....
.....
.....
.....

۳ـ څه وخت یو انسان الله تعالی ته موحد جوړیدی شي.

.....
.....
.....





لومړی ډول: د ربوبیت توحید:

دا: په افعالو کې الله تعالی په یووالی سره منل دي.

پدې توحید د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې مشرکانو اقرارکړی و، خو اسلام ته یې داخل نه کړل، او رسول الله صلی الله علیه وسلم ورسره وجنګید او د هغوی ویني او مالونه یې حلال وګرځول.

دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَمَن يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَن يُدَبِّرُ الْأَمْرَ ۚ فَسَيَقُولُونَ اللَّهُ ۚ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ﴾

(ته وو ایه: تاسو ته له اسمان او ځمکې نه روزي څوك درکوي؟ یا د غوږونو او سترګو مالك څوك دی اوڅوك ژوندی له مړي راوباسي او مړی له ژوندي راوباسي او څوك د کارونو تدبیرکوي؟ نو یقینًا دوی به و ایي چې الله دی، (نو ته وو ایه): ایا نو تاسو نه وېرېږئ!)[یونس: ۳۱]

د لوست لارښوونې:

- د الله جل جلاله په افعالو کې هغه یو کښل، په دې باور ساتل چې هغه خالق، رازق، ژوندي کوونکی، مړ کوونکی او د داسې نورو اعمالو یوازینی ځښتن دی
- کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کفارو ته راغی نو دوی د ربوبیت پر توحید ایمان درلوده، خو دې ایمان یې ورته کټه ونه رسوله. ځکه چې دوی الله تعالی سره په الوهیت کې شرک کاوه (هغه یې یوازې د عبادت مستحق نه ګانه)
- څوک چې په دې عقیده وي چې الله پیدا کړی او همغه روزي ورکوي، خو یوازې د الله عبادت نه کوي؛ هغه انسان مشرک دی، له دې امله الله تعالی په تیرو آیتونو کې مشرکان ملامت کړل او ویې رټل.

او الله تعالى فرمايلي:

﴿قُل لِّمَنِ الْأَرْضُ وَمَن فِيهَا إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٤﴾﴾

(ته (دوی ته) وو ایه: دا ځمکه او څوك چې په دې کې دي، د چا دي؟ که چېرې تاسو پوهېږئ.

﴿قُلْ مَن رَّبُّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ ﴿٨٦﴾﴾

ته (دوی ته) وو ایه: د اووه اسمانونو او د ډېر لوی عرش رب څوك دی؟

﴿قُلْ مَن بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٨﴾﴾

ته (دوی ته) وو ایه: څوك دی هغه ذات چې د هغه په لاس کې د هرشي بادشاهي ده او هغه پناه ورکوي او د هغه په خلاف پناه نشي ورکول کېدی که چېرې تاسو پوهېږئ.

[المؤمنون: ٨٤ - ٨٩].[٣]

٣-**ملكوت يعني پادشاهي.** -و هو يجير: او هغه پناه ورکوي، او هغه خپل بندګان له شر څخه ساتي او هره بده پېښه ترې دفع کوي.

- **ولا يجارُعليه:** او د هغه پر خلاف پناه نشي ورکول کېدی، يعني هيڅوك د الله په مقابل کې چاته پناه نشي ورکولای (چې د الله نه يې بچ کړي) او د هغه شر مخنيوی نه شي کولای چې الله تعالى تاکلی وي.

- **أنَّى تُسْحَرون:** نو څنګه په تاسو جادو کولی شي؟ ستاسو عقلونه چېرته تللي دي



پوښتنې:

١- الله تعالی د هغه په افعالو کې یو ځنډل څه معنا؟

.....

.....

.....

.....

٢- د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې کفارو کوم توحید منلی و او آیا د هغوی اقرار دوی ته ګټه رسولې وه؟

.....

.....

٣- د ربوبیت توحید دلیل څه دی؟

.....

.....





پوښتنې:

۴- ایا هغه څوک مسلمان ګڼل کیدی شي چې دا مني چې الله روزي ورکوونکی، ژوندي کوونکی او مړکوونکی دی خو عبادت يې نه کوي؟ اوولې؟

.....

.....

.....

.....





پنځم لوست: د الوهیت توحید ...

- دا: د الله تعالی یووالی دی د بندګانو په افعالو کې لکه: دعا، نذر، قربانی، امید، خوف، هیله، ویره، رجوع کول، مرسته غوښتل، پناه غوښتل او لوی ګڼل.
- دا ډول توحید هغه دی چې په پخوا او اوسنیو وختونو کې د پیغمبرانو او د هغوی د قومونو تر منځ پکې شخړه رامنځته شوې وه.

د دعا دلیل د الله تعالی دا قول دی:

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۚ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ﴾

(او ستاسو رب وویل چې: تاسو ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم، بېشکه هغه کسان چې زما له عبادت نه تکبر کوي، ژردی چې دوی به دوزخ ته ننوځي، په داسې حال کې چې خوار او ذلیله به وي).[غافر: ٦٠].[٤]

د لوست لارښوونې:

- د الوهیت توحید چې د (عبادت توحید هم ورته وایي) هغه توحید دی چې له امله یې پیغمبران رالیږل شوي او کتابونه نازل شوي، او هر پیغمبر پرې خپل امت ته بلنه پیل کړې ده لکه څنګه چې نوح، هود، صالح او شعیب علیهم السلام فرمایلي دي:
﴿يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ﴾ (ای زما قومه! تاسو د الله عبادت کوئ، ستاسو لپاره له هغه پرته (بل) هېڅ په حقه معبود نشته). [الأعراف: 59، و65، و73، و85].
- دعا د توحید او عبادت یو له ستر و دولونو څخه ده او له همدې امله الله تعالی په دې آیت کې فرمایلي:
(إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي) (بېشکه هغه کسان چې زما له عبادت نه تکبر کوي)،
یعنې: زما له رابللو څخه، دلیل یې د آیت پیل دی چې فرمایي:
(ادْعُونِي) . (ادْعُونِي) ما راوبلئ.

٤- داخرین: یعنې خوار او ذلیل.



پوښتنې:

۱- د الوهیت توحید تعریف کړه.

.....

.....

.....

۲- هغه څه دي چې پېغمبر انو ورته خپل قومونه ترټولو لومړی رابللي وو؟

.....

.....

۳- الله تعالی فرمایلي:

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۚ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ﴾

(او ستاسو رب وفرمایل: تاسو ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم، بېشکه هغه کسان چې زما له عبادت نه تکبر کوي، ژر دی چې دوی به دوزخ ته ننوځي، په داسې حال کې چې خوار او ذلیله به وي).

په آیت کې پدې خبره دلیل دی چې دعا له عبادت څخه ده، تشریح یې کړه.

.....

.....

.....

.....



پوښتنې:

۴- د بندګانو پنځه افعال وښیه چې عبادت وي، او یوازې الله تعالی ته یې کول فرض وي.

.....
.....
.....
.....

۵- د ربوبیت او الوهیت توحید تر منځ څه توپیر دی، مثال یې وو ایئ؟

.....
.....
.....
.....



د اسماء او صفاتو توحید


دریم ډول: د اسماء او صفاتو توحید:

دا : په هر هغه څه ایمان راوړل دي چې په قرآن کریم او صحیح احادیثو کې د الله تعالی له نومونو او صفتونو څخه ذکر شوي دي چې هغه پرې خپله خپل ځان نومولی او یا یې پرې پیغمبر صلی الله علیه وسلم نومولی، او دا باور درلودل چې د الله په څېر هیڅ شی نشته او هغه اوریدونکی او لیدونکی دی.

الله تعالی فرمایلي:

﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ۝١ اللَّهُ الصَّمَدُ ۝٢ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ۝٣ وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ﴾

﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ۝١﴾ (اې نبي!) ته (دوی ته) وو ایه: شان دا دی چې الله یو دی.
﴿اللَّهُ الصَّمَدُ ۝٢﴾[٥] هم دا الله بې نیازه (بې حاجته) دی.
﴿لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ۝٣﴾ نه یې (څوك) زېږولی دی او نه دی (له چا) زېږول شوی دی.
﴿وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ ۝٤﴾ او د ده هیڅوك سیال (او) بر ابر نشته) [الإخلاص: ١-٤].



٥- الصمد: هغه بادار چې مخلوق پرې تکیه لري او خپلې اړتیاوې ورته وراندې کوي.



د اسماء او صفاتو توحيد

او الله تعالى فرمايلي:

﴿وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا ۖ وَذَرُوا الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَائِهِ ۚ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾

(او خاص د الله لپاره ترټولو ښکلي نومونه دي، نو تاسو الله په دغو (نومونو) سره بلئ او هغه کسان پرېږدئ چې د هغه په نومونو کې الحاد (کوږوالی) کوي، ژر به هغوی ته د هغو عملونو بدله (سزا) ورکړی شي چې هغوی به کول)[الأعراف سورت: ایت ۱۸۰].

او الله تعالى فرمايلي:

﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ۖ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾

(د هغه په مثل هیڅ شی نشته او هم دغه ښه اوریدونکی، ښه لیدونکی دی)[الشورى: ۱۱].

د لوست لارښوونې:

- د الله تعالى په نومونو او صفتونو ایمان لرل واجب دي.

د الله تعالى نومونه او صفتونه له قرآن کریم او صحیح حدیثونو څخه د سلف صالحینو د فهم مطابق پژندل کیږي.

- د الله تعالى نومونه ټول ښکلي او ډیر دي لکه: الصمد (بې نیازه)، البارئ (له مخکې بیلګې پرته پیدا کوونکی)، السمیع (اوریدونکی) البصیر(لیدونکی)، الرحمن (رحم کوونکی)، الرحیم (مهربان)، او هغه لره ډیر صفتونه دي لکه: الرحمة (رحمت)، القوة (ځواک)، الحکمة (حکمت)، الحیاة (ژوند)، العزة (عزت) او العلم (علم او پوهه).

- مسلمان ته روا نه دي چې د الله تعالى صفتونه د مخلوقاتو له صفاتو سره تشبیه کړي، ځکه چې الله ډیر لوړ او لوی دی.

﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ۖ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾.

(د هغه په مثل هیڅ شی نشته او هم دغه ښه اوریدونکی، ښه لیدونکی دی)

- مسلمان ته په کار دي چې الله تعالى د هغه په نیکو نومونو راوبلي، د بیلګې په توګه ووایي چې: یا غفور اغفر ذنبي (ای بښونکی ذاته؛ بښنه راته وکړه، یا رَحمانُ ارْحَمْنِي: ای مهربان ذاته پر ما رحم وکړه، یا عَلِیمُ عَلِّمْنِي؛ ای علیم ذاته ماته پوهه راکړې او داسې نور.



پوښتنې:

١- د الله تعالى نومونه او صفتونه له کوم ځايه پيژنې؟

.....

.....

.....

.....

٢- د الله تعالى ځينې نومونه وښيه چې ته يې پيژنې.

.....

.....

٣- د الله تعالى ځينې صفتونه وښيه چې ته يې پيژنې.

.....

.....

.....

.....

٤- آيا مونږ ته روا دي چې مخلوق ته له خالق سره تشبيه ورکړو؟ دليل پرې څه دی؟

.....

.....

.....



پوښتنې:

۵- په څه سره الله تعالی رابلو؟

.....

.....

.....

.....



اووم لوست مخلوق ته د الله تعالی رسولان

پيغمبران:

هغه کسان دي چې الله جل جلاله خلکو ته د دې لپاره رالېږلي چې شريعت يې ورسوي او يوازې د يو الله عبادت ته يې راوبلي چې شريک نه لري او له هغه پرته يې د بل چا له عبادت څخه منع کړي.

د پيغمبرانو له لېږلو څخه حکمت: الله جل جلاله خپلو بندګانو ته د حجت په توګه لېږلي، تر څو خلکو ته دين ورسوي، او پيروي کوونکي ته په جنت او لوی ثواب سره زيری ورکړي او ګناهکار له اور او سخت عذاب څخه ووېروي.

الله تعالی فرمايلي دي:

﴿رُّسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ﴾

(او (مونږ لېږلي وو) رسولان، چې زېری ورکوونکي او وېروونکي وو، دې لپاره چې خلکو ته په الله باندې څه حجت پاتې نشي)[النساء سورت: ١٦٥ آيت].

د لوست لاړښوونې:

الله جل جلاله هر امت ته يو پيغمبر لېږلی تر دې چې د پيغمبرۍ لړۍ پې زمونږ د پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم په رسالت پای ته ورسوله، نو هغه د قيامت تر راتلو پورې انسانانو او پرياتو ټولو ته د الله جل جلاله پيغمبر دی.

- د رسول الله صلی الله عليه وسلم په پيغمبرۍ کې درې مهم ټکي شامل دي:

١ - خلکو ته د هغوی رب د هغه په نومونو او صفتونو سره وپېژندل.

٢- د الله تعالی د عبادت د سمې طريقې بيانول.

٣- خلکو ته د قيامت په ورځ د خپلو اعمالو د جزا بيانول.

د رسولانو لومړی او وروستی:

لومړی یې نوح او وروستی یې محمد ﷺ دی





پوښتنې:

۱- پیغمبرانو علیهم السلام خپل قومونه څه شي ته رابللي وو؟

.....

.....

.....

.....

۲- لاندې تش ځایونه ډک کړئ:

أ- د پیغمبرانو لومړی ..... او ورستی یې .....

ب- د رسول الله صلی الله علیه وسلم په پیغام کې مهم مسایل شامل دي، چې عبارت دي له:

1-.....

2-.....





اتم لوست

لومړی هغه څه چې الله تعالی پر خلکو فرض کړي دي.

پدې پوه شه[٦] - الله دې پرتا رحم وکړي - چې لومړی شی چې الله تعالی پر بني آدم فرض کړی هغه په الله ایمان او په طاغوت کفر دی.

دلیل پې د الله تعالی دا قول دی:

﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ﴾

(او یقیناً مونږ په هر یو امت کې یو رسول لېږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ).[النحل سورت ٣٦ آیت].

په طاغوت باندې د کفر کولو وضاحت:

په طاغوت د کفر تشریح: چې له الله پرته د بل هر شي د عبادت د بطلان عقیده ولرې، ترې لاس په سر شي او کرکه ترې ولرې.

د لوست لاړښوونې:

د بنده ایمان هغه مهال صحیح کېږي چې (د ایمان سره) په طاغوت کفر وکړي، ځکه چې الله جل جلاله په عبادت حکم پر طاغوت د کفر کولو سره تړلی دی لکه چې فرمایي:
﴿أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ﴾ (چې تاسو د الله عبادت وکړئ او له طاغوت نه ځان وساتئ)
[النحل سورت ٦٣ آیت].

پر طاغوت کفر کول په ډیرو کارونو سره کېږي لکه:

١- دا عقیده لرل چې له الله پرته د بل چا عبادت باطل دی، که څه هم هغه ملایک وي یا نبي.

٢- چې له الله پرته د بل چا د عبادت کولو ځخه ډډه وکړي، نو له الله پرته بل ځوک نه رابلي، او یوازې پر الله توکل کوي، له الله پرته بل چاته قرباني نه کوي او یوازې الله تعالی ته نذر کوي.

٣- چې له شرک او هغو مشرکانو ځخه کرکه ولرې چې د مسلمانانو سره دښمني کوي.

4- د هغه چا د کفر عقیده ولري چې د الله تعالی سره نور معبودان شریکوي.

- مینه او نفرت کول له دین ځخه دي، نو پر مسلمان واجب دي چې د توحید او طاعتونو سره مینه او له شرک او ګناهونو ځخه کرکه ولري.

٦- د دې لیکنې عنوان دی (معنی الطّاغوتِ ورُؤُوس أنواعِه). یعنې د طاغوت معنا او د ډولونو سرونه (مشران) یې.

پوښتنې:

۱- لومړی څه شی دی چې الله تعالی پر بني آدم فرض کړی دی؟ دلیل یې وو ایه.

.....
.....
.....

۲- په طاغوت کفر څنګه کیږي؟

.....
.....
.....
.....
.....
.....
.....

۳- پر طاغوت د کفر کولو طریقه څنګه ده؟

.....
.....
.....
.....
.....
.....
.....

۴- د هغه چا حکم څه دی چې له الله پرته د بل چا عبادت وکړي؟

.....
.....
.....

ریښتینی ایمان

په الله تعالی د ایمان معنا:

دا ده چې: باورولرې پدې چې یوازې یو الله دی چې له هر چا پرته یې عبادت کیږي، او دا چې د عبادت ټول ډولونه خاص الله لره وکړئ، له هغه پرته یې د بل هر معبود څخه نفي کړې، د الله لپاره مینه ولرې او د الله لپاره یو څه بد وګڼې.

دا د ابراهیم علیه السلام ملت دی[۷] چې چا ترې مخ وګرځاوه نو یقینا چې ځان یې احمق کړ، او دا هغه طریقه ده چې الله تعالی یې په اړه پدې وینا کې خبر ورکړی دی:



د لوست لارښوونې:

۱ - ایمان یوازې یوه کلمه نده چې انسان یې په ژبه ووایي، بلکې (ایمان) وینا، عقیده او عمل دی.

۲ - ریښتینی ایمان عبارت دی له:

- دا عقیده ولرې چې الله یو دی، هیڅ شریک نه لري او دا چې هغه یوازې له هر چا پرته د عبادت وړ دی.
- چې په اخلاص سره د الله عبادت وکړي.
- چې د مؤمنانو سره محبت ولري او مرسته یې وکړي.
- چې له هغو کفارو څخه کرکه ولري چې د مسلمانانو سره دښمني کوي، او ظلم ورسره ونه کړي.

۳ - چا چې دا دین پریښود او د ابراهیم له ملت څخه یې مخ واړاوه نو یقینا چې خپل ځان یې سپک کړ او د خپل ځان په فاسدولو او بربادولو کې یې هڅه وکړه، الله تعالی فرمایلي: ﴿وَمَن يَرْغَبُ عَن مِّلَّةِ إِبْرَاهِيمَ إِلَّا مَن سَفِهَ نَفْسَهُ﴾ {او مخ نه اړوي د دین د ابراهیم علیه السلام نه مګر هغه څوک چې بې وقوف کړي ځان خپل}.[البقرة سورت: ۱۳۰ آیت].

۷- ملت: دین دی، او د ابراهیم ملت: د توحید دین دی.

﴿قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَآءُ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُ﴾

(یقیناً تاسو لپاره یوه ښکلې طریقه په ابراهیم او په هغو کسانو کې ده چې له هغه سرهملګري وو کله چې هغوی خپل قوم ته وویل: بېشکه مونږ له تاسو نه او له هغو څیزونو نه چې تاسو یې له الله څخه پرته عبادت کوئ، سخت بېزاره (او جلا) یو، مونږ پر تاسو منکران شوي یو او زمونږ او ستاسې په مینځ کې عداوت (دښمني) او بغض د تل لپاره څرګند (او واقع) شوی دی، تر هغه پورې چې تاسو په الله ایمان راوړئ چې هغه یوازې دی).[الممتحنة: ٤].





پوښتنې:

ابراهيم عليه السلام د پېغمبرانو پلار دی، الله تعالی يې قوم ته ورولېږه چې يوازې د يو الله عبادت ته يې راوبلي، هغوی له الله پرته د بتانو عبادت کاوه، نو ابراهيم عليه السلام د يو الله عبادت ته راوبلل، خو هغوی ضد او لويي وکړه او د بتانو پر عبادت يې ټينګار وکړ، نو کله چې هغوی د اختر لپاره ميلې ته ووتل، ابراهيم عليه السلام يې ټول بتان مات کړل، کله چې هغوی پوه شول، لوی اور يې بل کړ او هغه يې پکې وغورځاوه، آيا پوهيږئ چې له ابراهيم عليه السلام سره څه وشول؟

هغه اور ونه سوځاوه؛ بلکې الله تعالی ورته سوړ او د امن ځای وګرځاوه.

۱- د ابراهيم عليه السلام په کيسه کې د ايمان ځينې معناوې دي، هغه ترې راوباسئ.

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....



پوښتنې:

۲- ریښتینی ایمان په څه سره کیږي؟

.....

.....

۳- هغه چاته څه ویل کیږي چې د ابراهیم علیه السلام ملت پریږدي؟

.....

.....

۴- څوک چې د ابراهیم علیه السلام دین پریږدي هغه خپل ځان ته څه زیان رسوي؟

.....

.....





پوښتنې:

٥- آيا په لاندنيو حالاتو کې سم ايمان ترلاسه کيږي؟

أ- يو سړی دی چې لمونځ کوي خو له نيکانو خلکو کرکه کوي؟

.....

ب- يو سړی دی ګواهي ورکوي چې له الله پرته بل حق معبود نشته، خو د کفارو سره مينه لري.

.....

ج- يو سړی يوازې د يو الله عبادت کوي او له مؤمنانو سره محبت کوي

.....





لسم لوست شيطان طاغوت دی ...

طاغوت:

هر هغه څه چې له الله تعالی پرته يې عبادت کيږي او هغه يې پرعبادت راضي وي، هغه که معبود وي يا يې پيروي کيږي، او يا يې د الله او رسول له اطاعت پرته اطاعت کيږي، نو هغه طاغوت دی.

طاغوتان ډير دي، چې له جملې څخه يې (ځينې دا دي):

لومړی: شيطان چې له الله پرته د بل عبادت ته بلنه ورکوي، دليل يې د الله تعالی دا قول دی:

﴿أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَا بَنِي آدَمَ أَن لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ ۖ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٦٠﴾ وَأَنِ اعْبُدُونِي ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ﴾ [يس: ٦٠-٦١].

﴿أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَا بَنِي آدَمَ أَن لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ ۖ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٦٠﴾﴾

(ای بني ادمو! ايا ما تاسو ته کلك حکم نه و کړی، داسې چې تاسو د شيطان عبادت مه کوئ. يقينًا هغه ستاسو ښکاره دښمن دی).

﴿وَأَنِ اعْبُدُونِي ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ﴾

او داسې چې تاسو زما عبادت کوئ، دا نېغه لار ده)

د لوست لارښوونې:

د لوست لارښوونې:

١- ظلم له حد څخه تېرېدل دي، او طاغوت: هغه څوک دی چې له حده تېر شي او دعوه وکړي چې هغه د خلکو لپاره معبود دی، يا دا چې په غيبو پوهېږي، يا په کايناتو کې تصرف کولی شي او يا خلک له شريعت پرته بل څه ته راوبلي.

٢- هغه څوک چې خلک يې عبادت وکړي او هغه يې په عبادت راضي نه وي، هغه ته طاغوت نه ويل کيږي لکه: ملايکې او عيسی ابن مريم عليه السلام.

٣- شيطان د ټولو طاغوتان سر دی؛ ځکه چې خلک د خپل رب له عبادت څخه ګرځوي، او شرک او کفر ورته ښايسته کوي.

٤- شيطان د بني آدم سخت دښمن دی؛ ځکه چې پلار يې ورته له جنت څخه راويستلی، او هغه خپلې ډلې ته بلنه ورکوي چې دوزخيان يې کړي.

٥- صراط مستقيم (نيغه لار): د يو الله عبادت او د شيطان د عبادت پرېښودل دي.



پوښتنې:

١- طاغوت تعريف کړه.

.....
.....
.....
.....
.....

٢- ولې ابليس ترتولولوی طاغوت دی؟

.....
.....
.....
.....
.....

٣- صراط مستقيم څه دی؟

.....

٤- په ايت کريمه کې الله تعالی موږ له څه شي نه منع کړي يو؟ او په څه شي يې موږ ته امر کړی؟

.....
.....
.....



د الله له نازل کړي (شريعت) په بل څه فيصله کول

دويم: هغه واکمن چې د الله حکمونو ته بدلون ورکوي، دليل يې د الله تعالى دا قول دى:

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَن يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا﴾ [النساء سورت: ٦٠ آيت].

(آيا تا هغه کسان نه دي ليدلي چې دعوا کوي چې دوى پر هغه څه ايمان راوړى چې تا ته نازل کړى شوي دي او پر هغه څه چې له تا نه مخکې نازل کړى شوي دي، دوى غواړي چې خپلمينځې فيصلې طاغوت ته يوسي، حال دا چې دوى ته له هغه نه د انکارکولو حکم شوى دى او شيطان غواړي چې دوى بې لارې کړي، په ډېرې لرې ګمراهۍ سره).



د لوست لارښوونې:

١ - چا چې د الله شريعت تحريف کړ، د هغه حکمونه يې بدل کړل؛ حرام يې حلال کړل او يا يې حرام حلال کړل نو هغه طاغوت دى، برابره خبره ده که هغه واکمن وي او يا بل څوک.

٢ - چا چې د الله له شريعت پرته پر بل څه پريکړه وکړه، پدې باور چې دى په څه پريکړه کوي د الله له شريعت څخه غوره دى نو هغه طاغوت دى او له دين څخه وتلى دى.

٣ - د مسلمان شان دا دى چې د خپل رب له حدودو سره ودرېږي، او پر هغه څه پريکړه وکړي چې الله نازل کړى وي، او د الله د شريعت په وراندې بدلول او تحريف ونه کړي.

پوښتنې:

۱- هغه چا ته څه ویل کیږي چې د الله تعالی حکمونه یې بدل کړي وي؟

.....

.....

۲- هغه چاته څه ویل کیږي چې پر هغه څه پریکړه نه کوي چې الله نازل کړی دی، په دې باور چې دی په کوم څه پریکړه کوي د الله له شریعت څخه غوره دی؟

.....

.....



دريم: هغه څوک چې له الله پرته پر غيبو د پوهېدو دعوه کوي، دليل يې د الله تعالی دا قول دی:

﴿عَالِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِ أَحَدًا ﴿٢٦﴾ إِلَّا مَنِ ارْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُ يَسْلُكُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ رَصَدًا﴾ [الجن: ٢٦-٢٧].

﴿عَالِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِ أَحَدًا ﴿٢٦﴾﴾

(هغه پر پټو پوه دی نو په خپلو پټو هيڅوک نه خبروي.

﴿إِلَّا مَنِ ارْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُ يَسْلُكُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ رَصَدًا﴿٢٧﴾﴾

مګر هغه چې کوم رسول يې خوښ شي، نو بېشکه دغه (الله) د ده په مخ کې او د ده شا ته ساتونکي (څوکيداران) روانوي).

او الله تعالی فرمايلي:

﴿وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ ۚ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ۚ وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ﴾

(له هماغه سره د غيبو ټولې کنجيانې دي چې له ده پرته بل څوک نه پرې پوهيږي، په وچه او لمده کې چې هر څه دي ورباندې پوهيږي، داسې کومه پاڼه نه رالويږي چې دی پرې عالم نه وي او نه به د زمکی په تريړميو کې څه دانه وي (چې الله ته معلومه نه وي)، لامده او وچ ټول په يو روښانه کتاب کې (ليکل شوي) دي.) [الأنعام سورت: ٥٩ آيت].

ځلورم: هغه څوک چې له الله پرته يې عبادت کيږي او هغه يې پر عبادت خوښ وي، دليل يې د الله تعالى قول دى:

﴿وَمَن يَقُلْ مِنْهُمْ إِنِّي إِلَٰهٌ مِّن دُونِهِ فَذَٰلِكَ نَجْزِيهِ جَهَنَّمَ ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ ﴾

[الأنبياء: ٢٩].

(او په دوی کې چې څوك وو ايي چې بېشكه زه له هغه (الله) نه پرته معبود يم، نو دغه دی چې مونږ ده ته (د) جهنم جزا ورکوو، همداسې مونږ ظالمانو ته جزا ورکوو).



د لوست لارښوونې:

١ - څوک چې پر غيبو د پوهېدلو دعوه وکړي لکه: غيب ويونکی، فال ليدونکی، نجومي او داسې نور، دا ټول د طاغوت په نوم کې راځي، دوی د غيبو د علم په ادعا سره د الله تعالى په حق برید وکړ، ځکه چې په غيبو له الله پرته بل څوک نه پوهيږي.[٨]

٢ - پر مسلمان واجب دي چې کودکرانو، فالبينانو او نجوميانو ته لاړ نه شي او د هغوی پر اټکلونو او دروغو باور ونه کړي.

٣- له طاغوتانو څخه هغه کسان هم دي چې خلک يې رابلي او له مصيبتونو څخه د خلاصون لپاره ترې مرسته غواړي؛ هغه کار چې يوازې الله تعالى پرې غالب دی او هغه د دوی په عبادت راضي وي.

٨- کاهن: هغه چاته وايي چې ادعا کوي په تيرو غيبو پوهيږي. او عراف: هغه څوک دی چې په راتلونکي کې په چارو د پوهيدو ادعا لري، او نجومي: هغه څوک دی چې په ستورو کې د کتو له مخې دعوه کوي چې د کائناتو په حال پوهيږي.



پوښتنې:

۱- چا سره د غیبو علم دی؟ پدې دلیل وړاندې کړئ.

.....

.....

.....

.....

۲- په طاغوتانو کې دریم او څلورم کوم دي؟

.....

.....

۳- د هغه چا سزا څه ده چې وایي: زه له الله پرته معبود یم؟

.....

.....

.....

.....

۴- آیا له الله پرته بل څوک په غیبو پوهیږي؟

.....

.....

.....



پوښتنې:

۵- په آيت کريمه کې څوک ظالمان ياد شوي دي؟

.....

.....

.....

.....





دیارلسم لوست مومن باید په طاغوت کفر وکړي.

او پوه شه چې انسان تر هغه پورې په الله مؤمن نه شي جوړیدلی چې په طاغوت کفر ونه کړي، دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ ۖ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ ۚ فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انفِصَامَ لَهَا ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾ [البقرة: ١٥٦].

(په دین (منلو) کې هیڅ جبر نشته، یقیناً حقه لارله ګمراهۍ نه ښه څرګنده (بېله) شوې ده، نو چا چې له طاغوت (شیطان، بت) نه انکار وکړ او په الله یې ایمان راوړ، نو یقیناً ده ډېره مضبوطه کړۍ ټینګه ونیوله، چې هغې لره هیڅ پرېکېدل نشته، او الله ښه اوریدونکی، ښه پوه دی)

له (الرُّشْدُ) څخه مراد د محمد صلی الله علیه وسلم دین دی، او له (الغی) څخه مراد د ابوجهل دین دی.

العُرْوَةُ الوُثْقَى:

پدې ګواهۍ کې چې له الله پرته بل معبود نشته نفي او اثبات دواړه غښتي دي، په نفي سره له الله تعالی پرته د نورو ټولو شیانو عبادت نفي کیږي او د عبادت ټول ډولونه یوازې یو الله ته ثابتیږي چې شریک نه لري.[٩]

د لوست لارښوونې:

١ - د توحید په تحقق کې تر ټولو مهم شی یوازې د یو الله عبادت دی.

٢- په الله تعالی ایمان یوازې په طواغتانو په کفر کولو او له هر هغه چا نه په بیزاره کېدلو محقق کیږي چې د هغوی عبادت پې کړی وي، نو لومړی باید انسان په طاغوت کافر شي لکه چې الله پاک فرمایلي:

﴿فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ﴾. (څوک چې پر شیطان کفر وکړي او پر الله ایمان راوړي) (آیت).

٣- العُرْوَةُ الوُثْقَى (ټینګه رسۍ): پدې شاهدي ورکول دي چې له الله پرته په حقه بل معبود نشته، چا چې پرې منګولې ولګولې کامیاب شو او له بدبختۍ، ګمراهۍ او تاوان څخه وژغورل شو.

٩- دا لیکنه: (معنى الطّاغوت ورُؤوس أنواعِه) پای ته ورسیده.



پوښتنې:

۱- تش ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

أ- ټینګه رسۍ نیوونکی باید په ..... کافر او په ..... ایمان ولري.

ب- پدې ګواهي ورکول چې په حقه معبود یوازې یو الله دی په ..... او ..... ته شاملیږي.

۲- د هغه چا بدله څه ده چې په کلکه رسۍ منګولې ولګوي؟

.....

.....

۳- آیا په طاغوت کفر کول واجب دي؟ اوولې؟

.....

.....


درسي نصاب

فقه

څلورمه سويه

لنډه کتنه:

دا علمي مضمون په سعودي عربستان کې د زده کونکو لپاره د تعليمي نصاب اصلاح شوی لنډيز دی چې په بېلابېلو سويو ويشل کيږي، په دې کې يو مضمون فقهي ته ځانګړی شوی چې دولس (۱۲) سويې لري. هغه اړين موضوعات او مسائل چې په څلورمه سويه کې راوړل شوي په لاندې ډول دي:



د طهارت او فضیلت په اړه وینا، د اوداسه شرطونه، فرضونه، سنتونه او د اوداسه ماتوونکي.

د اذان او اقامت طریقه.

د اوداسه د هغو شرطونو تشریح چې له هغوی پرته نه صحیح کیږي.

د فرض لمانځه د وختونو، ارکانو او واجباتو تشریح.

په ساده او اسانه طریقه د سورت الفاتحې تفسیر.

څلورمه سويه

سريزه

الحمدُ للهِ الذي عَلَّمَ بِالقَلَمِ، عَلَّمَ الإنسانَ ما لم يَعْلَم، والصَّلاةُ والسَّلامُ على الرَّسولِ الكَريم الذي بَلَّغ ما أُنْزِلَ إليه، ووَضَّحَ لأُمَّتِه أحكامَ الدِّينِ، وكلَّ ما يحتاجون إليه في أَمْرِ الدُّنْيا والآخِرَة، وبعد:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

« مَن يُرِد اللهُ بِه خَيْراً يُفَقِّهه في الدِّين ».

«چا ته چې الله تعالى د خير اراده وکړي، هغه ته په دين کې پوهه ورکوي».

پر همدې بنسټ، د واجب احساس او په شرعي احکامو پوهېدلو ته د اړتيا له مخې د پوهنې او روزنې وزارت له پېله په ټولو تعليمي سويو کې د فقهې د تدريس پرېکړه وکړه؛ ځکه پر دې پوهېدل د احکامو پېژندلو او تصور کولو سره يې تړاو لري او دې ته سخته اړتيا ليدل کيږي چې يو مسلمان په بصيرت سره د خپل رب عبادت وکړي.

او خوښ کُنو چې ښوونکي ته د ځينو هغو لاروچارو يادونه وکړو چې له هغه سره د اسلامي علم په رسولو او په اسانه توګه د زده کوونکو د پوهولو په برخه کې د مسوولیت په ترسره کولو کې مرسته وکړي لکه:

څلورمه سوېه

١ دا راپه زړه کول چې اسلامي علم دين دی او دا چې زده کړه يې د هغه تبليغ برخه ده چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ورته په دې وينا سره بلنه کړې ده:

« بَلِّغوا عنِّي ولو آيَة »

«زما له طرفه خلکو ته (دين ورسوئ) که څه هم د يو آيت په اندازه وي».

همدا رنګه دا يو عبادت دی چې الله تعالى يې تر هغه نه قبلوي چې خاص د هغه د رضا لپاره نه وي.

٢ له الله تعالى څخه د ډير ذکر، دعا او استغفار لپاره مرسته غوښتل او دا چې پر ښوونکي، د هغه په خبرو، ظاهر او کړنو يې اغيزې ښکاره شي.

٣ د زده کړې د عمومي اهدافو، د هرې مرحلې او هر مضمون د اهدافو درک کول چې تدريس کيږي؛ ځکه دا له ښوونکي سره مرسته کوي چې مضمون ته له نومورو اهدافو سره تراو ورکړي، مناسبه موضوع او اسلوب يې انتخاب کړي او د نومورو اهدافو په رڼا کې د زده کوونکو ارزونه کوي.

٤ د تدريس د مختلفو ميتودونو کارول او د هر لوست لپاره د مناسب ميتود غوره کول.

٥ د لوست له تشريح کولو مخکې اړونده ماخذونو ته مراجعه کول.

له الله تعالى څخه سوال کوو چې دا کړنه خاص د خپلې رضا لپاره وګرځوي، او د الله درود دې وي زمونږ پر نبي محمد صلى الله عليه وسلم.

١٠- بخاري په کتاب أحاديث الأنبياء؛ باب: ما ذكر عن بنى اسرائيل کې په ١۶۴٣ شمېره روايت کړی دی.

طهارت او فضيلت يې

الله تعالى فرمايلي

﴿إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ﴾

(يقيناً الله ډېر توبه وېستونكي خوښوي او ښه پاك اوسېدونكي خوښوي)

[البقرة سورت: ۲۲۲ آيت].



۱۱- ښوونکې ته!

ښوونکی د لوست دوه نصوص تشریح کوي او له مخې يې د اوداسه اهميت او فضيلت بيانوي.

- په اوداسه او نورو چارو کې اسراف کول حرام دي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: " إِنَّه سَيكُونُ فِي هذه الأُمَّةِ قَوْمٌ يَعتَدُونَ فِي الطَّهورِوالدُّعاءِ". «پدې امت کې به داسې خلک وي چې په پاکوالي او دعا کې به له حد نه تېرى کوي». ابو داود په ۹۶ شمېره روايت کړى، لدې امله په اوداسه کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم طريقه دا وه چې هغه به په يو مد اودس کاوه.

- د طهارت په مشروعيت کې ښکاره دليل دى چې اسلام پاکوالي ته پاملرنه کړې ده.

- په اسلام کې ظاهري پاکوالي ته په پاملرنې کې دې ته اشاره ده چې باطني پاکوالى هم اړين دى لکه له: کناهونو، کينې، حسد او د زړه له نورو ناروغيو څخه پاکوالى.

او (رسول الله) صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

« ألا أَدُلُّكُم على ما يَمْحُو اللهُ بِهِ الخطايا ويَرْفَع بِه الدَّرجات ؟» قالوا: بلى يا رَسولَ اللهِ. قال: « إسْباغُ الوُضوءِ على المكارِهِ[١٢]، وكَثْرَة الخطا إلى المساجِدِ، و انْتِظارُ الصَّلاةِ بَعْدَ الصَّلاةِ[١٣]».

«آيا زه تاسو ته هغه څه ونه ښايم چې په دې سره الله تعالى ګناهونه له منځه وړي او درجې لوړوي؟» هغوى وويل: هو، ولې نه اى د الله رسوله: هغه وفرمايل: «په سختيو کې اودس بشپړول او جوماتونو ته زيات قدمونه اخيستل او له يو لمانځه وروسته بل لمانځه ته انتظار کول».

د مسلمان لپاره پاکوالى په دوو شيانو حاصليږي:

١ اودس

٢ د نجاست لرې کول.



١٢- مکاره د مکروه جمع ده او هغه څه ته ويل کيږي چې انسان يې نه خوښوي او ورته سخت وي لکه: په سخته يخنۍ کې اودس کول.
١٣- سلم په کتاب الطهارة؛ باب: فضل اسباغ الوضوء على المكاره کې روايت کړى دى (٢١٩/١)، او (٢٥١).

هغه څه چې اودس ورته شرط دی:

کله چې مسلمان غواړي له لاندې کارونو څخه یو وکړي، نو باید اودس ورته وکړي:

لمونځ	مصحف په لاس کې اخیستل	طواف

د اوداسه واجبات

اودس یو واجب لري چې هغه (بسم الله) ویل دي.	بسم الله د اودس په پیل کې ویل کیږي.

له چا څخه چې بسم الله هیره شوه، یا یې د اودس په جریان کې رایاده شوه، نو بسم الله دې ووایي او اودس ته دې دوام ورکړي.

له چا چې بسم الله هیره شوه تر دې چې اودس یې خلاص شو، نو اودس یې صحیح دی او هیڅ شی پرې نشته.

پوښتنې:

س۱: د اودس طریقه وښیه.

.....

.....

.....

.....

س۲: په (√) او (×) علامو سره ځواب ورکړئ او غلطې اصلاح کړئ.

أ- کله چې مسلمان د لمانځه اراده ولري، باید اودس وکړي.

ب - پر مسلمان واجب دي چې کله له یادو قرآن وایي باید اودس ورته وکړي.

ج- پر مسلمان واجب دي چې له کعبې شریفې څخه د طواف لپاره اودس وکړي.

د- له چا چې بسم الله هیره شوه، تر دې چې له اودس نه فارغ شو، پرې واجب دي چې بیا اودس وکړي.

هـ- د بسم الله ویلو ځای: د اودس په پیل کې.



پوښتنې:

س۳: د صحيح ځواب له شمېرې څخه کړۍ تاوه کړئ:

أ: بشپړ اودس کول لوی فضيلت لري:

۱ - الله تعالی پرې يوازې ګناهونه له منځه وړي.

۲ - الله تعالی پرې يوازې درجې لوړوي.

۳ - الله تعالی پرې ګناهونه له منځه وړي او درجې پرې لوړوي.

ب - د کوم کار لپاره اودس کول واجب دي:

۱ - مصحف راخيستل

۲ - خوراک کول

۳ - خوب کول.

ج - له چا چې بسم الله هيره شوه، بيا د اودس په جريان کې ور په ياد شوه نو پرې واجب دي چې:

۱ - اودس له سره پيل کړي.

۲ - بسم الله ووايي او اودس ته ادامه ورکړي.

۳ - اودس ته ادامه ورکوي او بسم الله نه وايي.



اودس شرطونه لري چې ځينې يې دا دي:

١ - نيت: چې په اودس سره د ناپاکۍ د لرې کېدلو قصد وکړي، يا په اودس سره د لمانځه لپاره د طهارت قصد وکړي، او يا د قرآن کريم د لوستلو او داسې نورو کارونو لپاره.

٢ - په پاکو اوبو سره وي، ځکه له اوبو پرته اودس نه صحيح کيږي او په ناپاکو اوبو هم اودس نه کيږي.

٣ - اوبه (د حکم له اړخه) مباحې وي، ځکه په حرامو اوبو اودس نه کيږي لکه: په زوره تر لاسه شوې اوبه او داسې نورې.

٤ - د هغه څه لرې کول چې غړو ته د اوبو د رسيدو مخنيوی کوي لکه: اوړه، خټه، رنګونه او داسې نور.

٥ - له تشو او ډکو متيازو وروسته د دواړو شرمګاوو پاکول.

١٤ - ښوونکې ته!

- الحدث: يعنې چې د انسان بدن ته داسې يو څه ورپېښ شي چې د لمانځه او داسې نورو (کارونو) څخه يې منع کوي، او لامل به يې وروسته په اودس ماتوونکو کې راشي.
- النية: نيت په لغت کې قصد ته وايي، او غالبا په يوې موضوع کې د زړه د ارادې لپاره کارول کيږي. او په اصلاح کې دې ته وايي چې د نجاست د لرې کولو اراده وکړي؛ يا د هغه څه لپاره چې پاکوالی ورته واجب او يا سنت وي، د مثال په توګه که د قرآن کريم د تلاوت لپاره اودس وکړي چې قرآن له يادوو ايي (حال دا چې د دې لپاره اودس کول سنت دی) نو دی کولی شي چې په همدې اوداسه سره فرض لمونځ وکړي؛ ځکه چې پدې اودس سره يې د نجاست د لرې کولو اراده کړې وه، او د نيت خای زړه دی او په خوله يې ويل يې بدعت دی.
- د مخکې او وروسته شرمګاوو پاکول د اودس برخه نده، بلکې هغه چاته يې پاکول اړين دي چې تشې او يا ډکې متيازې وکړي، او دا کار د هر اودس لپاره اړين نه دی.
- ښوونکی دې خبرې ته د زده کوونکو پام راړوي چې که چېرته يو څوک متيازې وکړي او له استنجا پرته بېرته پرتوک واغوندي او بيا لمونځ وکړي نو لمونځ يې صحيح نه دی (ځکه له متيازو کولو وروسته بايد استنجا وکړي چې شرمګاوې يې له نجاست څخه پاکې شي).

پوښتنې:

س۱: د اوداسه شرطونه وشمیره.

.....

.....

.....

.....

س۲: په (√) او (×) سره ځواب ورکړئ او غلطې اصلاح کړئ.

أ- په ناپاکو اوبو اودس نه کیږي.

.....

ب- په غلا شوو اوبو اودس کیږي.

.....

ج- په زوره تر لاسه شوو اوبو باندې اودس نه کیږي.

.....

د - په چای اودس کیږي

.....

۳: تش ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ

۱- نیت: دې ته وایې چې د ..... اراده وکړي؛ یا د هغه څه لپاره چې پاکوالی ورته .....وي.

۲ - په اوبو سره د اودس کولو لپاره شرط دا دی چې اوبه .....او دا چې ..... وي.

پوښتنې:

۳ - د اوداسه له شرطونو څخه د ..... لرې کول دي چې ..... د اوبو د رسیدو مخنیوی کوي لکه ..... او ..... او .....



اودس شپږ فرضونه لري چې په لاندې ډول دي:



۱ - مخ وينځل: چې په دې کې مضمضه او استنشاق دواړه شامل دي، مضمضه: په خولې کې اوبو خوځولو ته وايې او استنشاق د تنفس په واسطه پوزې ته اوبو کش کولو ته وايې.



۲ - د څنګلو په شمول د دواړو لاسونو وينځل.



۳ - سر، سره له دواړو غوږونو مسح کول.



۴ - د ښنکرو (کيټيو) په کډون د دواړو پښو وينځل.

۵ - ترتيب.

۶ - الموالات: موالات دې ته وايې چې غړي پرلپسې ووينځل شي، داسې نه چې د يو غړي له وچيدو وروسته بل غړی ووينځي.

۱۵- ښوونکې ته!

- الفروض: فروض د فرض جمع ده چې له واجبو څخه يې مرتبه پورته ده؛ ځکه چې په قصد او سهوه نه ساقطيږي، د واجب پر خلاف چې د سهوې په حالت کې ساقطيږي. - ښوونکې دې زده کوونکي وپوهوي چې په اودس کې بايد ټول مخ ووينځل شي، يعنې په اوږدو د تندي له پورته برخې څخه د مړی تر چنغړک پورې (راوتلی کرښدوکی چې د ږيرې وروستی حد دی) او په پلنوالي له يو غوږ څخه تر بل غوږ پورې، نو يوازې د مخ مخکنۍ برخه وينځل بسنه نه کوي (بايد ټول مخ ووينځل شي). - د څنګلو په کډون د دواړو لاسونو وينځل، داسې چې د کوتو له څوکو يې پيل کړي، نه دا چې له مروند نه پورته يې ووينځي. - د غوږونو په کډون د سر مسح کول: داسې چې يو ځل دواړه لاسونه په اوبو لاندې کړي او د سر له مخکنۍ برخې څخه يې ترشا پورې کش او بېرته راکش کړي، او بيا په همغو لندو لاسونو؛ د شهادت په کوتو سره د دواړو غوږونو نرمې مسح کړي او د غوږونو پاسنۍ برخه په غټو کوتو سره مسح کړي.

پوښتنې:

س۱ - د اوداسه فرضونه وشمیره.

.....

.....

.....

.....

س۲: په (√) او (×) علامو سره ځواب ورکړئ او غلطې اصلاح کړئ.

أ- د اودس له فرضونو څخه د سر له مسح کولو وروسته؛ د خولې او پوزې مینځل دي.

.....

ب- تندی د مخ برخه نه ده، نو د اودس پر مهال یې وینځل واجب نه دي.

.....

ج- د اودس له فرضو څخه د غوږونو په ګډون د سر مسح کول دي.

.....

د - په اودس کې د ښنګرو وینځل واجب نه دي.

.....

هـ- د اوداسه له فرضونو څخه د سر وینځل دي.

.....



س٣: د صحيح ځواب له شمېرې څخه کړۍ تاوه کړئ:

أ- موالات دې ته و ايې چې:

١ -په اودس کې اسراف.	٢ - په اودس کې ځنډ کول.	٣ - د غړي وينځل؛ مخکې له دې چې مخکنی غړی ووينځل شي.

ب - په اودس کې ترتيب


١ - د دواړو پښو، دواړو لاسونو او بيا مخ وينځلو سره.	٢- د مخ مينځل، بيا لاسونه تر څنګلو پورې، بيا د سر مسح کول، بيا د پښو مينځل.	٣ - مخکې له دې چې مخ ووينځل شي د څنګلو په ګډون د لاسونو پر مينځلو پيل وشي.

د اوداسه له سنتونو څخه:

١- د اودس په پیل کې درې ځلې د لاسونو مینځل.

٢- مسواک؛ چې وخت یې د خولې د مینځلو پر مهال دی.

٣- د هغه چا لپاره چې روژه نه وي د خولې او پوزې په مینځلو کې مبالغه کول.



١٦- ښوونکې ته!

- په مضمضه کې له مبالغې څخه مراد؛ په خولې کې د اوبو اړول او راړول دي.
- په استنشاق کې له مبالغې څخه مراد د تنفس په واسطه د پوزې پورته برخې ته اوبه کش کول دي.
- د کوتو له خلالولو څخه مراد دا دی چې د لاسونو کوټې د پښو د کوتو په منځونو کې ووهي، او د دواړو لاسونو کوټې په خپلو کې په یو بل کې سره ووهي.
- د مخ لاسونو او پښو دویم او دریم ځل وینځل سنت دي، حال دا چې یو ځل یې وینځل واجب دي، او د سر مسح له یو ځل نه زیات روا نه ده.

٤- د لاسونو او پښو د ګوتو خلالول.

٥- التَّيامُنُ: ښی لاس له کين لاس څخه مخکې وينځل او ښی پښه له کينې پښې مخکې وينځل.

٦- د مخ، لاسونو او پښو دويم او دريم ځل وينځل.

٧- چې د اودس څخه له فارغېدلو وروسته ووايي:

(أشهَد أن لا إله إلاّ الله وحدَه لا شَرِيك له، وأشهَدُ أنَّ محمَّداً عَبْدُه ورَسولُه)[١٧]

يعنې: (زه ګواهي ورکوم چې له الله پرته بل حق معبود نشته، هغه يو دی او شريک نه لري، او ګواهي ورکوم چې محمد د الله بنده او رسول دی).

او(اللَّهُمَّ اجعَلْنِي مِن التَّوابِينَ واجْعَلْنِي مِن المتَطَهِّرِين)[١٨]

(اې الله ما له توبه کوونکو او پاکي خوښوونکو څخه وګرځوې).



١٧- وګوره: صحيح مسلم (٢٠٩/١)، د حديث شمېره (٢٣٤) او سنن ابوداود: (٤٣/١)، د حديث شمېره (١٦٩)

١٨- ترمذی په خپل جامع کې روايت کړی (٧٨/١) د حديث شمېره (٥٥)

پوښتنې:

س١: د اوداسه سنتونه وشمیره.

.....

.....

.....

.....

س٢: د (أ) په ستون کې د جملې مخې ته هغه شمیره ولیکه چې د (ب) د ستون له کلمې سره مناسبه وي.

أ	ب
١ - مبالغه په :	( ) د خولې وینځلو پر مهال.
٢ - خلالول.	( ) مضمضه او استنشاق.
٣ - مسواک وهل د :	( ) دویم او دریم ځل.
٤ - وینځل.	( ) ګوتې
	( ) درې ځلې



پوښتنې:

س۳: خالي ځايونه ډک کړئ:

۱- د اودس په ..... کې .....د لاسونو مينځل سنت دي.

۲ - تيامن دې ته وايي چې .....

۳ - هغه دعا چې له اودس څخه وروسته ويل کيږي:

.....

.....



ځینې اودس ماتوونکي په لاندې ډول دي:

۱- هغه څه چې له دوو شرمګاوو څخه راوځي لکه: تشې او ډکې متیازې، باد او داسې نور.

۲- بې هوشي.

۳- دروند خوب.

۴- له پردې پرته له دواړو شرمګاوو څخه په یو لاس وهل.

۵- د اوښ غوښه خوړل.



۱۹- ښوونکي ته!

- کله چې تشې یا ډکې متیازې له شرمګاوو پرته له بلې لارې راووځي نو اودس ماتیږي، د بیلګې په توګه چاته چې عملیات وشي او له بلې لارې متیازې کوي.
- هغه خوب چې اودس پرې ماتیږي؛ ډوب خوب دی، په داسې توګه چې د اودس په ماتیدلو پوه نه شي، خو که چیرته خوب ډوب نه وي اودس نه ماتیږي.
- په شک اودس نه ماتیږي. نو چا چې اودس وکړ، بیا یې شک پیدا شو چې آیا اودس یې مات شوی که نه؟ نو د هغه اودس شته، همدا رنګه د چا چې اودس مات شو بیا شکي شو چې بیا یې اودس کړی که نه؟ نو د هغه اودس مات دی او باید اودس وکړي؛ ځکه چې یقین په شک سره له منځه نه ځي.

پوښتنې:

س۱: د اوداسه درې ماتوونکې وښیه.

.....

.....

.....

.....

س۲: له صحیح ځواب څخه کړی تاوه کړئ:

أ- ځینې اودس ماتوونکي:

۱ - د اوښ غوښه خوړل.	۲ - د ګډ یا پسه غوښه خوړل.	۳ - د غوا غوښه خوړل.

ب - ځینې اودس ماتوونکي:

۱ - د خوب له امله ځنګېدل.	۲ - خوب.	۳ - څښاک.

ج - کله چې دې د لمانځه په جریان کې اودس مات شو نو پرتا واجب دي چې:

۱ - لمونځ پرې کړې، بیا اودس وکړې او لمونځ راوګرځوې.

۲ - لمانځه ته ادامه ورکړې، بیا اودس وکړې او لمونځ راوګرځوې.

۳ - لمانځه ته ادامه ورکړې، او لمونځ راونه کرځوې.

د اذان او اقامت تعریف:

اذان:	د لمانځه د وخت د داخلیدو اعلان.
اقامت:	لمانځه ته د پاڅیدو خبرتیا.

اذان پنځلس جملې دی، چې په لاندې ډول دي:



اللهُ أكبَر - اللهُ أكبَر
اللهُ أكبَر - اللهُ أكبَر
أشهَد أن لا إله إلّا الله
أشهَد أن لا إله إلّا الله
أشهد أنَّ محمَّداً رسولُ الله
أشهَد أنَّ محمّداً رسولُ الله
حيَّ على الصَّلاةِ
حيَّ على الصَّلاةِ
حيَّ على الفَلاحِ
حيَّ على الفَلاحِ
اللهُ أكبَر - اللهُ أكبَر
لا إله إلّا الله

۲۰ - ښوونکې ته!

ښوونکی لوست د اذان د پیلیدو د مشروعیت پر سبب پیلوي، لکه څنګه چې د عبد الله بن زید رضي الله عنه په حدیث کې راغلي. وګوره: سنن ابی داود، (۳۳۷/۱) ، - شمیره(٤٤٩)، او د امام احمد مسند: (٤٣/٤)، شمیره: (١٦٥٢٤).

ښوونکی زده کوونکو ته د اذان فضیلت بیانوي. لکه څنګه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پدې وینا کې راغلي دي چې: «لا يَسْمَع مَدَى صَوْتِ المؤَذِّن جِنٌّ ولا - إِنْسٌ ولا شَيْءٌ إلّا شَهِدَ له يَوْمَ القِيامَةِ». هیڅ شی د مؤذن اوازنه اوري مکر دا چې د قیامت په ورځ به پرې ګواهي ورکوي، هغه که پیرۍ وي، یا انسان وي او یا هم یو شی. بخاري په خپل صحیح کې په ۶۰۹ شمیره روایت کړی، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وینا چې فرمایي: " المؤَذِّنونَ أَطْوَلُ النَّاسِ أَعْناقاً يَوْمَ القِيامَةِ ". اذان کوونکي به د قیامت په ورځ تر ټولو هسکې غړۍ لري، مسلم په خپل صحیح کې روایت کړی دی، (۲۹/۱)، رقم (۳۸۷).

د سهارپه اذان کې به له: (حي على الصلاة) نه وروسته دا الفاظ ورزياتوي.

الصَّلاةُ خَيْرٌ مِن النَّوْمِ - الصَّلاةُ خَيْرٌ مِن النَّوْمِ

اقامت يوولس جملې لري، چې دا دي:

اللهُ أكْبَر - اللهُ أكْبَر

أشهَدُ أن لا إله إلّا الله - أشهَدُ أن محمَّداً رسولُ اللهِ

حيَّ على الصَّلاةِ - حَيَّ على الفَلاحِ

قَد قامَت الصَّلاةُ - قد قامَت الصَّلاةُ

اللهُ أكْبَر - اللهُ أكْبَر

لا إله إلّا الله

اذان يوازې د عاقل، مسلمان نارينه له خوا روا دی، او په ښځه اذان او اقامت نشته.



پوښتنې:

س١: تش ځايونه پوره کړي:

١- اذان دې ته وايي:.....

٢- اقامت عبارت دی له:

س٢: د اذان او اقامت جملې ولوله.

.....

.....

.....

.....

س٣: په (√) او (×) علامو سره ځواب ورکړئ او د غلطۍ د شتون پر مهال غلطي اصلاح کړئ.

١ - اذان پنځلس جملې لري

.....

٢ - اقامت لس جملې لري

.....

٣ - موذن به: (حَيّ على الصَّلاة) نه وروسته: (الصَّلاةُ خَيْرٌ مِن النَّومِ) وايي.

.....

٤ - موذن يوازې د سهار په لمانځه کې: (الصَّلاة خَيْرٌ مِن النَّوم) وايي.

.....

د موذن لپاره سنت دي چې:

١- قبلې ته مخ کړي.

٢- خپلې ګوتې په دواړو غوږونو کې ورکړي.

٣- چې په اذان سره غږ لوړ کړي.

٤- له هرې جملې وروسته د لږ وخت لپاره ځنډ کول.

٥- د (حَيَّ على الصَّلاةِ) ويلو پر مهال ښي طرف او د: (حَيَّ على الفَلاحِ) ويلو پر مهال چپ طرف ته مخ اړوي.



٢١- ښوونکې ته!

- ښوونکی په زده کوونکو د سهار او نور (وختونو) اذانونه او اقامت په عملي توګه تطبیقوي.
- ښوونکی له زده کوونکو غواړي چې اذان او اقامت په عملي توګه له سنتو سره تمثیل کړي.
- ښوونکی زده کوونکو ته معلومات ورکوي چې د ښځې لپاره جومات ته وتل روا دي، خو پدې شرط چې د وتلو لپاره قوانین مراعات کړي لکه: (پرده کوونکی حجاب – له عطرو کارولو ډډه کول)، خو په خپل کور کې يې لمونځ غوره دی.

د هغه چا لپاره چې د موذن غږ اوري سنت دي چې:

۱- هغه څه ووايي چې مؤذن يې وايي پرته له : حَيَّ على الصَّلاةِ، حَيَّ على الفَلاحِ) نو هغه مهال به : (لا حَوْلَ ولا قُوَّةَ إلّا بِاللهِ) وايي.

۲ - موذن او اوريدونکي ته د اذان له خلاصيدو وروسته سنت دي چې:

أ - په رسول الله صلى الله عليه وسلم درود ووايي.

ب - هغه څه ووايي چې د جابر بن عبد الله رضي الله عنه په حديث کې راغلي چې فرمايي:

« مَن قال حِينَ يَسْمَع النِّداءَ: اللَّهمَّ رَبَّ هذه الدَّعْوَةِ التّامَّة والصَّلاة القائِمَة آتِ محمَّداً الوَسِيلَة والفَضِيلَة وابْعَثْهُ مَقاماً محمُوداً الذي وَعَدْتَه، حَلَّت له شَفاعتي يَوْمَ القِيامَةِ ».


څوک چې اذان واوري او بيا ووايي: «اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلَاةِ القَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّدًا الوَسِيلَةَ وَالفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ» «اې د دې بشپړې بلنې او د دې ودريدونکي لمونځ (مالکه)؛ محمد -صلى الله عليه وسلم- ته وسيله او فضيلت ورکړه، او هغه ستايل شوي مقام ته يې ولېږه چې تا يې ورسره ژمنه کړې ده. (چا چې د اذان پسې دا دعا وويله نو) هغه د قيامت په ورځ زما د شفاعت مستحق وګرځېده». .

۲۲- بخاری په کتاب الأذان، باب الدعاء عند النداء کې په ۶۱۴ شمېره روایت کړی.

- مسلمان ته په کار دي چې د اذان له اوريدولو سره جومات ته لاړ شي، او په بل هيڅ کار ځان مشغول نه کړي.

او مسلمانه مېرمن هم په خپل کور کې لمانځه ته بيړه کوي؛ ځکه دا کار غوره دی، دليل يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا وينا ده چې فرمايي:

«وبُيوتهُنَّ خَيْرٌ لَهُنَّ». "او د هغوی کورونه هغوی لپاره غوره دي".



٢٣- احمد په ٥٤٧١ شمېره روايت کړی او د حديث څېړونکو ويلي چې حديث صحيح دی.

پوښتنې:

س۱: تش ځایونه پوره کړي:

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

س۲: تش ځایونه ډک کړئ:

۱ - د موذن او اوریدونکي لپاره سنت دي چې له اذان څخه وروسته ووایي:

.....

۲ - هغه دعا چې له اذان نه وروسته ویل کیږي دا ده:

.....

۳ - مسلمان ته په کار دي چې کله یې اذان واوریده چې:

.....

لمونځ نهه شرطونه لري چې له هغوی پرته لمونځ نه صحيح کيږي:

١ - اسلام:

د کافر لمونځ نه صحيح کيږي؛ ځکه د عمل د قبليدو له شرطونو څخه: په الله تعالى ايمان دی او کافر مومن نه دی، نو عملونه يې نه قبليږي.

٢ - عقل:

که چا عقل له لاسه ورکړی وي لکه لېونی نو لمونځ يې نه صحيح کيږي.

٣ - تمييز:

نو د کوچني ماشوم لمونځ نه صحيح کيږي تر دې چې د تميز سن ته ورسيږي او هغه اووه کلونه دي.

٤- له بې اودسی څخه پاکوالی:

نو د بې اودسه لمونځ نه صحيح کيږي تر دې چې اودس وکړي، دليل يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم وينا ده چې فرمايي:

٢٤- ښوونکې ته:
- ممیز: هغه چاته ویل کیږي چې په خبره پوهیږي او جواب ورکوي، او مشهوره دا ده چې د تمیز سن اووه کاله دی.
- د خای له نجاست څخه موخه: چې نجاست د لمونځ کوونکي لاندې وي، په داسې بڼه چې نجاست يې د بدن يوې برخې ته ورسيږي، خوکه چيرته نجاست د جای نماز په يوه څنډه و مثلا او هغه سره نه لړيده نو بيا باک نه لري.
- الله تعالى د لمانځه لپاره په خان سنګارولو امر کړی، فرمايلي يې دي:
﴿يَا بَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ﴾ [الأعراف: ٣١] (اې د آدم اولاده د هرسجدې ځای لپاره مو ښايست (جامې) ونيسئ). يعنې د هر لمانځه لپاره. لدې امله مسلمان ته ښايي چې د لمانځه لپاره خپلې ترټولو ښايسته جامې واغوندي، اوله نامناسب لباس سره لمانځه ته راتګ ونه کړي.

٢٥- بخاري په کتاب الحيل في الصلاة کې روايت کړی دی، د حديث شميره (٦٩٥٤).

«لَا يَقْبَلُ اللهُ صَلَاةَ أَحَدِكُمْ إِذَا أَحْدَثَ حَتَّى يَتَوَضَّأَ» .
"له تاسو څخه الله جل جلاله د هېڅا لمونځ نه قبلوي کله چې اودس مات کړي تر دې چې اودس وکړي".

مُحْدِث: هغه چا ته وايې چې اودس يې په تشو يا ډکو متيازو او يا بل اودس ماتوونکي سره مات شي.

۵ - له نجاست څخه پاکوالی:

پداسې طريقه چې په اوبو سره نجاست له (بدن، کالیو، او هغه ځای څخه لرې شي چې لمونځ پکې کيږي).

۶ - د وخت داخليدل:

نو د وخت له داخليدو څخه مخکې لمونځ نه صحيح کيږي، او له عذر پرته يې ناوخته کول حرام دي، الله تعالى فرمايلي:

﴿إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَوْقُوتًا﴾
(بېشکه لمونځ له شروع نه په مومنانو باندې په (معلومو) وختونو کې فرض کړی شوی دی)
[النِّساء:۱۰۳]

يعنې : په ټاکلو وختونو کې فرض دی.

۷ - د عورت پټول:

نو د هغه چا لمونځ نه صحيح کيږي چې عورت يې لوڅ وي، د سړي عورت د نوم او زنګنونو تر منځ دی او ښځه ټول عورت دی پرته له مخ او دواړو لاسونو څخه يې په لمانځه کې، تر هغه چې بيګانه سړي نه وي؛ که وي پرې واجب دي چې خپل مخ او دواړه لاسونه ترې پټ کړي.

٨ - قبلې ته مخ کول:

چې کعبه ده، دليل يې د الله تعالى دا قول دى:

﴿فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾

(نو خپل مخ د مسجد حرام په طرف وګرځوه)، [البقرة: ١٤٤].

- که چيرته لمونځ کوونکى په مسجد الحرام کې وي، نو هغه به خپله کعبې ته مخ کوي.
- او که چيرته لرې و نو هغه لورې ته به مخ کوي چې کعبه پکې ده.


٩ - نيت:

د هغه لمانځه د ادا کولو نيت وکړي چې غواړي ويې کړي لکه: ماسپښين، مازديګر او داسې نور.

دليل يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا قول دى:

« إنَّما الأَعْمالُ بِالنِّيّاتِ، وإنَّما لِكُلِّ امرئٍ ما نَوَى »

«بيشکه صحت د عملونو په نيتونو پورې دى او هر انسان ته به هغه څه حاصل شي چې نيت يې کړى وي»، او د نيت ځاى؛ زړه دى او تلفظ کول پرې بدعت دى.



٢٦- بخاري په کتاب بدء الوحى، باب: كيف كان بدء الوحى إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم کې په ١ شمېره او مسلم په کتاب الامارة، باب: قول النبى صلى الله عليه وسلم : " إنَّما الأعمالُ بِالنِّيّات "کې په (١٩٠٧) شمېره روايت کړى.

پوښتنې:

س۱: د لمانځه شرطونه وشمیره.

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

س۲: د لاندې مواردو د شرطیت لپاره دلایل وړاندې کړئ:

أ- له بې اودسې څخه پاکوالی.

.....

.....

ب- قبلې ته مخ کول.

.....

.....

ج- نیت.

.....

.....



س۳: لاندې څيزونه بيان کړه.

أ- هغه څيزونه چې نجاست ترې لرې کيږي.

.....
.....
.....
.....
.....
.....

ب- د خپل وخت څخه د لمانځه د وروسته کولو حکم.

.....
.....
.....
.....
.....
.....

ج- د سړي د عورت حد.

.....
.....
.....
.....
.....
.....

پوښتنې:

د- لمونځ کوونکی به په مسجد الحرام کې کوم لورته مخ کوي.

.....
.....
.....
.....
.....
.....

هـ- په لمانځه کې د ښځې د عورت حدود.

.....
.....
.....
.....
.....
.....



د فرض لمانځه وختونه په لاندې ډول دي:

۱ -سهار د دويم سهار له راختلو څخه تر لمر راختو پورې وي.

۲ -ماسپښين د لمر له زوال څخه تر هغه وخته پورې وي چې د هر شي سيوری د هغه په اندازه شي.

۳ - د مازديکر وخت د ماسپښين د وخت له پای ته رسيدو څخه تر هغه وخته پورې دی چې د هر شي سيوری د هغه دوه برابره شي.

۴ - ماښام د لمر له ډوبيدو څخه د سوروالي (شفق) تر ورکېدو پورې دی.

۵ - ماخوستن د سوروالي له ډوبيدو څخه تر نيمې شپې پورې دی.

۲۷ - ښوونکې ته:

- کله چې لمر له ختيځ څخه راپورته شي، نو هر شی اوږد سيوری لري او څومره چې لمر پورته کيږي دا سيوري کميږي او کميږي، تر دې چې لمر د اسمان منځ ته شي نو د سيوري کمښل پای ته ورسيږي، کله چې سيوری په زياتوالي راشي لمر زوال کړی دی او دا مهال د ماسپښين وخت داخل شوی دی، دا وخت تر هغه پورې دوام پيدا کوي چې د هر شي سيوری د هغه بر ابر شي، ځکه چې سيوری هغه لور ته نه حسابيږي چې لمر پرې لويدلی وي، نو کله چې د سيوري کمښل پای ته ورسيدل او په زياتوالي پې پيل وکړ نو د زياتوالی د پيل پر ځای يوه نښه کيږده، بيا چې کله لدې نښې څخه سيوری وغځېده او د هغه شي له اندازې زيات شو، نو د ماسپښين وخت وتلی او د مازديکر وخت داخل شوی دی او همداسې د مازديکر د وخت وتل هم دي، سهارونه دوه دي: لومړی سهار؛ په اسمان کې هغه سپينوالی دی چې له ختيځ څخه لويديځ لور ته غځيدلی وي او هيڅ حکم پرې نه مرتبيږي. او دويم سهار: په افق کې هغه سپينوالی دی چې له شمال څخه د جنوب لورې ته غځېدلی وي، دا نو هغه سپينوالی دی چې احکام پرې مرتبيږي لکه: د سهار وخت داخليدل، روژه نيول او داسې نور.

- شفق: هغه سوروالي ته و اېي چې د لمر له ډوبيدو وروسته راښکاره کيږي او تر وروستي ماخوستن پورې وي.

۲۸- ښوونکی د زده کوونکو پام را اړوي چې:

- په جومات کې د جماعت سره لمونځ په وخت ادا کړئ، په داسې حال کې چې ښځه په کور کې لمونځ کوي.
- ژر ويده شي ترڅو يو څه آرام شي او د لمانځه لپاره له انرژۍ سره راويښ شي.
- له اړتيا پرته د ناوخته ويښ پاتې کيدو ناوره اغيزې.

له خپل وخت څخه د لمانځه وروسته کول:

له خپل وخت څخه د لمانځه وروسته کول روا نه دي، او څوک چې دا کار وکړي نو يقينا چې لويه ګناه يې وکړه، الله تعالى فرمايلي:

﴿فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ ۝٤ الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ﴾

﴿فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ ۝٤﴾ (نو هلاکت دی لمونځ کوونکو لره)

﴿الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ﴾(هغه کسان چې دوی له خپلو لمونځونو نه غافله وي)

[الماعون: ٤-٥].

يعني: لمونځ له خپل وخت څخه وروسته کوي.



د قضا شوي لمونځ راګرځول:

څوک چې د لمانځه پر مهال ویده پاتې شي او یا یې لمونځ هیر شي، نو د راویښېدو پر مهال او یا دا چې هیر شوی لمونځ یې رایاد شي پرې واجب دي چې راویې ګرځوي او له هغه وروسته ورته نور ناوخته کول په کار نه دي، دلیل یې د أنس بن مالک رضي الله عنه حدیث دی وایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي:

«مَن نَسِيَ صَلاةً أو نامَ عنها فَكفّارتها أن يُصَلِّيها إذا ذَكَرَها »،

«څوک چې له یو لمانځه څخه ویده پاتې شو او یا یې هیر شوی و، نو کفاره یې دا ده چې لمونځ وکړي کله یې چې رایاد شي».

او د ده په یو بـــل لفظ کې راځي چې:

« لا كَفّـــــارَةَ لهـــا إلّا ذلـــك ».[٢٩]

«لدې پرته یې بله کفاره نشتـــــــه».



٢٩- مسلم په کتاب المساجد و مواضع الصلاة، باب: قضاء الفائتة و استحباب تعجيل قضائها کې روایت کړی. (٤٧٧/١)، شمیره (٦٨٤).

د ماخوستن د لمانځه څخه د مخکې ویده کېدلو او وروسته خبرې کولو حکم:

له اړتیا پرته د ماخوستن د لمانځه نه مخکې ویده کېدل مکروه دي، همدا رنګه وروسته ترې خبرې کول، تر څو د تهجدو لپاره تمبل نه شي او یا ترې د سهار لمونځ لاړ نه شي. او دلیل یې: عن أبي بَرْزَةَ رضي الله عنه أنَّ رسولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم

كان يَكْرَهُ النَّوْمَ قَبْلَ العِشاءِ والحدِيثَ بَعْدَها .

له ابو برزة الأسلمي رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به د ماخوستن له لمانځه څخه مخکې ویده کېدل او وروسته ترې خبرې کول بد ګڼل.[۳۰]



۳۰- بخاري په کتاب مواقيت الصلاة، باب: ما يكره من النوم قبل العشاء، : ٥٦٨).شمیره روایت کړی دی.

پوښتنې:

س۱: تش ځایونه بشپړ کړه:

۱ - د سهار د لمانځه وخت .....

۲ - د ماسپښین د لمانځه وخت .....

۳ - د مازدیګر د لمانځه وخت .....

۴ - د ماښام د لمانځه وخت .....

۵ - د ماخوستن د لمانځه وخت .....

س۲: تش ځایونه بشپړ کړئ:

۱ - له خپل وخت څخه د لمانځه وروسته کول ..... او چا چې دا کار وکړ نو یقینا چې ....., دلیل یې د الله تعالی دا قول دی: .....
(.....ساهون) یعنې:

۲ - او څوک چې د لمانځه څخه ویده پاتې شو او یا یې لمونځ هېر شوی و تر دې چې قضا شي نو پرې واجب دي چې ..... کله یې چې ..... او ورته روا نه دي .....

س۳: د لاندې کړنو علت بیان کړه:

۱ - د ماخوستن د
لمانځه څخه مخکې
خوب کول مکروه دي

.....

.....

.....

۲ - د ماخوستن د
لمانځه څخه وروسته
خبرې کول مکروه دي

.....

.....

.....

لمونځ څوارلس رکنونه لري چې په لاندې ډول دي:

۱ له ورتیا سره په فرض لمانځه کې ودریدل، دلیل یې د عمران بن حصین رضي الله عنه حدیث دی وایي چې ما بواسیر درلودل، نو د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې د لمانځه په اړه پوښتنه وکړه، هغه وفرمایل:

« صَلِّ قائِماً، فإن لم تَسْتَطِع فَقاعِداً، فإن لم تَسْتَطِع فَعَلى جَنْبٍ »[32]

"په ولاړه لمونځ وکړه، که دې نشو کولای نو په ناسته یې وکړه، او که دې نشو کولای نو په څنګ یې وکړه".



۳۱- ښوونکې ته!

- طمأنينة: د واجب ذکر په اندازه په ډاډ او ارامتیا کې پاتې کېدلو ته وایي. دا له خشوع او عاجزی پرته د زړه د سکون بل حالت دی، او عاجزي هم په لمانځه کې له مشروعه کارونو څخه یو دی؛ بلکې د لمانځه زړه اوروح دی، ځکه انسان ته یوازې د لمانځه هغه برخه کټه رسوي چې ده پکې فکر او عاجزي کړي وي. له دې امله ښوونکی زده کوونکي په لمانځه کې د عاجزی کولو ارزښت ته متوجه کوي، او اسباب یې ته ورته بیانوي.

- دې ته په لیدو هغه حدیث چې د یو سړي د کډوډ لمانځه یادونه پکې شوې ده؛ د لمانځه ارکان ر اټول کړي دي، نو ښوونکی یې د لمانځه په لومړي سر کې یادونه کوي، کله چې (تحریمه تکبیر) بیانوي، نو پدې ارکانو دلیل ترې وړاندې کوي او ورسره تراو ورکوي.

۳۲- بخاري په کتاب التهجد، باب: إذا لم يطق صلى قاعدا على جنب، کې په ۱۱۱۷ شمیره روایت کړی.

٢ د لمانځه په پيل کې تحريمه تکبير (الله اکبر) ويل دي، دليل يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا وينا ده:

« إذا قُمْتَ إلى الصَّلاةِ فَكَبِّر »[٣٣]. «کله چې لمانځه ته پاڅېدې نو تکبير ووايه».

٣ په هر رکعت کې فاتحه لوستل، دليل يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا وينا ده:

« لا صَلاةَ لِمَن لم يَقْرَأ بِفاتحَةِ الكِتاب »[٣٤]. «د هغه چا لمونځ صحيح ندى چې فاتحة الكتاب (الحمد لله) يې نه وي لوستلي».

٤ رکوع- دليل يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم قول دى:

« تَطْمَئِنّ راكِعاً ». «تر څو چې په رکوع کې مطمئن شې».

٥ له رکوع څخه پورته کېدل او برابر ودريدل، دليل يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم قول دى:

« ثمَّ ارْفَعْ حتَّى تَعْتَدِلَ قائِماً». «بيا پاڅېږه تر څو چې نيغ ودريږې»



٣٣- بخاري په کتاب الايمان، باب: وجوب القراءة للإمام و المأموم فى الصلوات كلها کې په ٧٥٧ شميره او مسلم په کتاب الصلاة، باب وجوب القراءة فى كل ركعة کې په ٣٩٧ شميره روايت کړى دى.

٣٤- بخارى په کتاب الاذان، باب: وجوب القراءة للامام والمأموم فى الصلوات كلها کې په ٧٥٦ شميره روايت کړى.

٦ په اوو اندامونو سجده کول، دليل يې د ابن عباس رضي الله عنهما حديث دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

« أُمِرْتُ أن أَسْجُدَ على سَبْعَةِ أَعْظُمٍ: على الجبْهةِ - وأشارَ بِيَدِه الي أَنْفِه -، واليَدَيْنِ، والرُّكْبَتَيْنِ، وأَطْرافِ القَدَمَيْنِ ».[٣٥]

«ماته امر شوی چې په اوو اندامونو سجده وکړم: په تندي؛ او په لاس سره يې خپلې، پوزې، دواړو لاسونو، دواړو زنګنونو، او د پښو څوکو ته اشاره وکړه».

او اووه اندامونه دا دي:

تنـــدی له پـــوزې ســره	دواړه لاســونـــه (ورغوي)
دواړه زنګنـــونـــــه	د پښـــــو څوکـــــي



٣٥- بخاري په کتاب الأذان، باب: السُّجود على الأَنْفِ، کې په (٨١٢) شمېره، او مسلم په کتاب الصَّلاةِ، باب: أعضاء السُّجودِ والنَّهْي عن كَفّ الشَّعْرِ والثَّوْبِ وعَقْصِ الرَّأسِ في الصَّلاةِ، کې په (٤٩٠) شمېره روايت کړی دی.

٧ له سجدې څخه پورته کېدل.

٨ د دوو سجدو تر منځ ناسته، او له سجدې څخه د پورته کېدو او د دوو سجدو تر منځ د کیناستلو دلیل د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول دی:
«ثمَّ ارْفَع حتى تَطْمَئِنَّ جالِساً ». «بیا پورته شه، تر دې چې په ناسته ښه مطمئن شې».[٣٦]

٩ وروستی تشهد، چې له تشهد لوستلو عبارت دی.

١٠ وروستي تشهد ته کیناستل، دا د ابن مسعود رضي الله عنه وینا ده وایي: مخکې لدې چې تشهد فرض شي موږ به په لمانځه کې داسې ویل: السَّلام على اللهِ، السَّلامُ على جِبْرِيلَ ومِيكائِيلَ، یعني سلام دې وي پر الله، سلام دې وي پر جبرایل او میکائیل، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل:
« لا تَقولوا هكذا؛ فإنَّ الله عَزَّ وَجَلَّ هو السَّلام، ولكن قولوا: التَّحِيّات للهِ والصَّلوات والطَّيِّبات، السَّلام عليك أيُّها النَّبيُّ ورَحْمَة اللهِ وبَركاتُه، السَّلامُ عَلَيْنا وعلى عِبادِ اللهِ الصّالحين، أشهَد أن لا إله إلّا الله، وأشهَد أن محمَّداً عَبْدُه ورَسُولُه ».[٣٧]
«داسې مه وایئ: ځکه چې الله جل جلاله په خپله سلام (سلامتیا ورکوونکی دی) بلکې ووایې چې :(ټول تعریفونه ، عبادتونه او ټولې پاکیزه خبرې الله لره دي، سلام دې وي پر تاسو ای نبي او پر تا دې د الله رحمت او برکتونه وي، او سلامتیا دې وي پر مونږ او د الله پر نیکو او صالحو بندګانو، زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل څوک د عبادت وړ نشته او شاهدي ورکوم چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله بنده او رسول دی).

٣٦- بخاري په کتاب الایمان، باب: وجوب القراءة للإمام و المأموم فی الصلوات کلها کې په ٧٥٧ شمیره، او دا الفاظ د همده دي. او مسلم په کتاب الصلاة، باب وجوب القراءة فی کل رکعة کې په ٣٩٧ شمیره روایت کړی دی.

٣٧- نسائي په کتاب السهو، باب: ایجاب التشهد کې په ١٢٧٧ شمیره حدیث روایت کړی او دا الفاظ د همده دي، او بیهقي په کتاب الصلاة، باب: وجوب التشهد الأخیر کې (٣٧٨/٢) روایت کړی او دې حدیث لره په صحیح البخاري کې نور شواهد هم شته، او په مسلم کې هم خو له :" قَبْلَ أن يُفْرَضَ ". وینا پرته.

١١ له وروستي تشهد نه وروسته په رسول الله صلى الله عليه وسلم درود ويل.

په رسول الله صلى الله عليه وسلم درود ويل.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې وينا پر بنسټ (چې وايي):

«وايئ: اللَّهمَّ صَلِّ على محمَّد وعلى آلِ محمَّد، كما صَلَّيْتَ على إبراهِيمَ وعلى آل إبراهِيمَ إنَّك حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللَّهمَّ بارِك على محمَّد وعلى آلِ محمَّدٍ كما بارَكْتَ على إبراهِيمَ وعلى آل إبراهِيمَ إنَّك حَمِيدٌ مَجِيدٌ»[٣٨]

١٢ دواړو خواوو ته سلام کړئ، د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې وينا پر بنسټ (چې فرمايي):

« وتحلِيلُها التَّسْلِيمُ »[٣٩]. «او تري خلاصيدل سلام کړئ دي».



٣٨- بخاري په کتاب أحاديث الأنبياء کې په ٣٣٧٠ روايت کړی، او الفاظ د همده دي، او مسلم په کتاب الصلاة، باب: الصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم کې روايت کړی دی.
٣٩- ابو داود په خپل سنن کې روايت کړی، (١٦/١)، په (٦١) شمیره. او ترمذی په خپل جامع کې په ٣ شمیره، ٨/١ روايت کړی.

١٣ الطُّمَأنِينَةُ: آرامتيا په ټولو ارکانو کې، دليل يې هغه حديث چې لمونځ کوونکي کډوډ لمونځ کړی و، له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی.

أنَّ رسولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم دَخَلَ المسْجِدَ، فَدَخَل رَجُلٌ فَصَلَّى فَسَلَّمَ على النَّبيِّ صلى الله عليه وسلم فَرَدَّ، فقال: ارجِع فَصَلِّ فإنَّك لم تُصَلِّ، فَرَجَع فَصَلَّى كما صَلَّى، ثمّ جاءَ فَسَلَّمَ على النَّبيِّ صلى الله عليه وسلم فقال: ارجِع فَصَلِّ فإنَّك لم تُصَلِّ .. ثَلاثاً، فقال: والذي بَعَثَكَ بِالحقِّ ما أُحسِن غَيْرَه فَعَلِّمْنِي، فقال: إذا قُمْتَ إلى الصَّلاةِ فَكَبِّر، ثم اقرَأْ ما تَيَسَّرَ مَعَك مِن القُرآنِ، ثمَّ اركَع حتَّى تَطْمئِن راكِعاً، ثمَّ ارْفَع حتَّى تَعْتَدِلَ قائِماً، ثم اسْجُد حتَّى تَطْمَئِنَّ ساجِداً، ثمّ ارْفَع حتَّى تَطْمَئِنّ جالِساً، وافعَل ذلك في صَلاتِكَ كلِّها ".

رسول الله صلى الله عليه وسلم جومات ته ننوت، نو يو سړی راننوت لمونځ يې وکړ او په رسول الله صلى الله عليه وسلم يې سلام واچاوه، هغه يې ځواب ورکړ او ويې ويل: وګرځه لمونځ وکړه، تا لمونځ نه دی کړی، نو وګرځيد او لکه د تېر په څېر يې لمونځ وکړ، بيا راغی په رسول الله صلى الله عليه وسلم يې سلام واچاوه، هغه وويل: وګرځه لمونځ وکړه، تا لمونځ نه دی کړی .. درې ځلې، هغه وويل: قسم په هغه ذات چې ته يې په حقه رالېږلی يې له دې يې نه نشم کولی، نو ته يې راوښيه، هغه وفرمايل: کله چې لمانځه ته پورته شوې الله اکبر ووايه، بيا چې درته له قران څخه کوم ځای اسان و هغه ووايه، بيا رکوع وکړه تر دې چې په رکوع کې مطمئن شې، بيا راپورته شه تر دې چې ښغ ودريږې، بيا سجده وکړه تر دې چې په سجده کې مطمئن شې، بيا پورته شه تر دې چې په ناسته کې مطمئن شې، او همداسې په ټول لمانځه کې وکړه ".[٤٠]

٤٠- بخاري په کتاب الايمان، باب: وجوب القراءة للإمام و المأموم فی الصلوات کلها کې په ٧٥٧ شمېره او دا الفاظ د همده دي. او مسلم په کتاب الصلاة، باب وجوب القراءة فی کل رکعة کې په ٣٩٧ شمېره روايت کړی دی.

١٤ په اركانو کې ترتيب؛ ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په ترتيب سره لمونځ کړی و، او فرمايلي يې دي:

« صَلُّوا كما رَأَيْتُموني أُصَلِّي ». [٤١]

«تاسو داسې لمونځ وکړئ لکه څنګه مو چې وليدم چې ما لمونځ کاوه».



٤١- بخاري په کتاب الأذان، باب الأذان للمسافرين إذا كانوا جماعة و الإقامة کې په ٦٣١ شمېره روايت کړی دی.

پوښتنې:

س۱: د لمانځه ارکان وشمېرئ؟

.....
.....
.....
.....
.....

س۲: د لاندې هرركن لپاره دليل وړاندې کړه چې د لمانځه يو ركن دی:

۱ - قيام (ودريدل)	....
۲- فاتحه لوستل.	....
۳ - سجده.	....
۴- دواړو خواوو ته سلام ګرځول.	....

س۳: لاندې رکنونه په لمانځه کې د ځای له مخې ترتيب کړئ:

وروستی تشهد - فاتحه لوستل - د دوو سجدو تر منځ ناسته - رکوع.

.....
.....

پوښتنې:

س۴ - اووه اندامونه کوم دي؟

س۵: وروستی تشهد ولیکه.

س۶: په رسول الله صلی الله علیه وسلم درود ولیکه.



د لمانځه واجبات اته دي چې په لاندې ډول دي:

١- له تحريمه تکبير پرته نور ټول تکبيرونه، ځکه چې هغه رکن دی.

٢- د امام، منفرد او مقتدي لپاره (سمعَ اللهُ لِمَن حَمِدَه) ويل.

٣- د امام، منفرد او مقتدي لپاره (رَبَّنا ولك الحمْدُ) ويل.

٤- په رکوع کې: (سُبْحانَ رَبي العَظِيم) ويل.

٥- په سجده کې (سبحان ربي الأعلى) ويل.

٦- د دوو سجدو په مينځ کې (ربِّ اغْفِرْ لي) ويل.

٧- لومړی تشهد.

٨- د لومړي تشهد لپاره کښاستل.

٤٢- ښوونکې ته!

- ښوونکی زده کوونکو ته د امام، مقتدي او منفرد تر منځ توپيرورښيي چې: امام هغه څوک دی په لمانځه کې د خلکو امامت کوي، يعنې لمونځ ورکوي. او مأموم: هغه چاته ويل کيږي چې شاته ودرپسې ودريږي او لمونځ ورسره کوي (مقتدي). او منفرد هغه چاته ويل کيږي چې يوازې لمونځ کوي.
- د رکوع لپاره تکبيرويل واجب دي، خو چا چې امام په رکوع کې لاندې کړ، هغه به يوازې په ولاړې تحريمه تکبير و ايي، بيا به د رکوع لپاره تکبير و ايي او رکوع به کوي او دا تکبير ورته مستحب دی - يعنې که يې وکړای شو- کنه نو تحريمه تکبير ورته بسنه کوي.

پوښتنې:

س١ - د لمانځه واجبات وشمیره.

.....

.....


س٢: د صحیح ځواب له شمېرې څخه کړۍ تاوه کړئ:

أ- سمع الله لمن حمده، به :

١ - امام، مقتدی او منفرد وایي.

٢ - یوازې امام او منفرد به یې وایي.

٣ - یوازې امام او مأموم به یې وایي.



پوښتنې:

ب- ربنـــــا ولـــک الحمـــد، به :

۱ - امام، مقتدي او منفرد.
۲ - يوازې امام او منفرد.
۳ - يوازې امام او مقتدي.

ج- سبحان ربی العظیم ویل کیږي په:

۱ - سجده کې.
۲ - د دوو سجدو په مینځ کې.
۳ - په رکوع کې.

س۳: په مناسب ځای کې نښه وکاروئ:

	رکن	واجب
له رکوع څخه پورته کېدل		
تحریمه تکبیر.		
(رَبِّ اغْفِرْ لي) ویل.		
(سُبْحان ربي الأَعْلى) ویل.		
فاتحه لوستل		
لومړی تشهد		
په رسول الله صلی الله علیه وسلم درود ویل.		



د رکن اوواجب ترمنځ توپير

رکن او واجب سره په يو شي کې يو شی دي او په بل کې سره توپير لري.

أ - هغه څه چې رکن اوواجب سره پکې يو شی دی:

رکن او واجب دواړه سره پدې کې يو شی دی چې هر يو يې لمونځ کوونکي په قصدي توګه پرېښوده لمونځ يې باطل دی.

ب - هغه څه چې رکن اوواجب سره پکې توپير لري:

- رکن چې کله له لمونځ کوونکي څخه په سهوه او يا ناپوهۍ کې پاتې شي نو نه ترې ساقطيږي؛ بلکې پرې واجب دي چې ادا يې کړي او د سهوې لپاره سجده وکړي.
- واجب چې کله له لمونځ کوونکي څخه هېر شي او يا ناپوهه وي نو ترې ساقطيږي، او پر ځای يې د سهوې لپاره سجده کوي.

٤٣- ښوونکي ته!

چا چې د لمانځه يو رکن د هېريدو او يا ناپوهۍ له امله پرېښود لکه: رکوع او يا سجده نو هغه څو حالتونه لري.

١ - مخکې لدې چې د دويم رکعت په قراءت پيل وکړي نو ورياد شي، نو دا مهال پرې واجب دي چې وګرځي او هغه رکن اووړپسې نورپرځای کړي، خپل لمونځ بشپړ کړي او د سهوې لپاره سجده وکړي.

٢ - هغه مهال ورياد شي چې د دويم رکعت په قراءت يې پيل کړی وي، نو هغه رکعت يې باطل شو چې رکن يې پکې پرېښی دی او دويم رکعت به يې د هغه رکعت ځای ناستی شي او د سهوې لپاره به سجده کوي.

٣ - هغه مهال د رکن پرېښودل وريادشي چې لمونځ يې پای ته رسولی وي، نو دا به داسې وي لکه تول رکعت يې چې پرېښی وي، نو که زيات و اتن نه و رامنځته شوی رکعت به يې ترته راوګرځوي، بيا به تشهد وو ايي، د سهوې لپاره به سجده وکړي او سلام به وګرځوي، خو که زيات و اتن رامنځته شوی و، لمونځ به له سره راګرځوي او د سهوې لپاره پرې سجده نشته.

٤ - دا چې پرېښودل شوی شی وروسته تشهد او يا سلام وي، نو دا مهال به هغه څه ادا کوي چې پرېښی يې دی، د سهوې لپاره به سجده کوي او سلام به ګرځوي، نو پدې حالت کې به د رکعت د پرېښودلو په خبر نه وي.

پوښتنې:

س۱: په (√) او (×) سره ځواب ورکړئ او غلطې اصلاح کړئ.

۱ - که چيرته لمونځ کوونکی قصدا رکن پريږدي لمونځ يې باطل دی.

.....

۲ - لمونځ کوونکی چې کله په قصد سره واجب پريږدي لمونځ يې باطل دی.

.....

۳ - رکن چې کله له لمونځ کوونکي څخه هېر شي لمونځ يې باطل دی.

.....

س۲: له صحيح ځواب څخه کړۍ تاوه کړئ:

أ- لمونځ کوونکی چې کله واجب پريږدي نو ترې ساقطيږي.

۱ - چې هېر يې شي.	۲ - په قصد سره يې پريږدي.	۳ - هيڅ کله نه ساقطيږي.

ب - کله چې لمونځ کوونکی رکن پريږدي نو هغه مهال ترې ساقطيږي چې:

۱ - پرې نه پوهيږي.	۲ - هېر شوی يې وي.	۳ - هيڅ کله ترې نه ساقطيږي.

ج - کله چې لمونځ کوونکی د هېريدو له امله واجب پريږدي نو:

۱ - بايد چې ادا يې کړي.	۲ - پر ځای يې بايد د سهوې لپاره سجده وکړي.	۳ - هيڅ شی پرې نشته.

﴿بِسْمِ اللَّهِ﴾

یعني: د الله په مرسته پیل کوم.

﴿الرَّحْمَٰنِ﴾

یعني: د ټولو مخلوقاتو لپاره د لوی رحمت خاوند.

﴿الرَّحِيمِ﴾

یعني: پر خپلو مؤمنو بندګانو د خاص رحمت خاوند.

﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ﴾

الحمد: د الله تعالی ستاینه د هغه له بشپړو صفتونو او پراخو نعمتونو سره.



﴿رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾

رب، مالک او د مخلوقات چاره ساز. العالمين: د عالم جمع ده، او عالم له الله تعالى پرته ټولو مخلوقاتو ته عالم ويل کيږي، او د (رب العالمين) معنا: د هغوی مالک، روزونکی او چارسمبالی ده.

﴿الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ﴾

د الله تعالى دوه نومونه دي چې د رحمت صفت پکې نغښتی دی.

﴿مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ﴾

يعنې: د حساب او پر عملونو د جزا ورځ، چې د قيامت ورځ ده.

﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ﴾

يعنې: ستا پرته د بل چا عبادت نه کوو، او عبادت: له بشپړ محبت او بشپړې عاجزی سره د الله تعالى اطاعت ته وايي.

﴿وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾

يعنې: ستا پرته له بل چا مرسته نه غواړو، او استعانت: له الله تعالى څخه د مرستې غوښتلو ته وايي.



﴿اهْدِنَا﴾

يعني، مونږ ته وښيه، هوښيار مو کړه او توفيق راکړه.

﴿الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ﴾

يعني: هغه ښکاره لار چې کوږوالی نه لري، هغه دين چې الله تعالى په خپل رسول صلى الله عليه وسلم نازل کړی دی.

﴿صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ﴾

يعني: د هغو کسانو لار چې پر هغوی دې د هدايت پيرزوينه کړې ده، له پيغمبرانو، ريښتينو، شهيدانو او صالحينو څخه.

﴿غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ﴾

هغه کسان چې په خپل علم عمل نه کوي لکه يهود او داسې نور.

﴿وَلَا الضَّالِّينَ﴾

او نه لار د ګمراهانو دوی هغه کسان دي چې له علم پرته عمل کوي لکه: نصارا او داسې نور.

امين

يعني: ای الله! دعا مو قبوله کړه.
او دا کلمه له فاتحې سورت څخه نده.




پوښتنې:

س۱ - (بِسْمِ اللهِ) څه معنا؟

س۲ - د : (الحمد لله) ، (رَبّ العالَمِين) ، (الصِّراط المستَقِيم) معنا بيان کړه.

س۳ - (عِبادَت)، او: (اسْتِعانَت) تعريف کړه.



پوښتنې:

س۴ - هغه کوم خلک دي چې الله تعالی پرې لورینه کړې ده؟ او په څه سره یې پرې لورینه کړې ده.

.....

.....

.....

س۵: هغه کوم خلک دي چې الله تعالی پرې قهر شوی دی؟

.....

.....

س۶: هغه کوم قوم دی چې الله تعالی په ګمراهۍ سره یاد کړی دی؟

.....

.....

.....



د تشهد د معنی تشریح

(التَّحيّات للهِ والصَّلَوات والطَّيِّبات، السَّلامُ عليك أَيُّها النَّبيُّ ورَحْمَة اللهِ وبَركاتُه، السَّلامُ علينا وعلى عِبادِ اللهِ الصّالحينَ، أشهَد أن لا إله إلّا الله، وأشهَد أنَّ محمَّداً عَبْدُه ورَسُولُه)،

(ټول تعریفونه ، عبادتونه او ټولې پاکیزه خبرې الله لره دي، سلام دې وي پر تا ای نبي او پر تا دې د الله رحمت او برکتونه وي، او سلامتیا دې وي پر مونږ او د الله پر نیکو او صالحو بندګانو، زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل څوک د عبادت وړ نشته او شاهدي ورکوم چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله بنده او رسول دی).

التَّحيّاتُ لله:

ټولې ستاینې الله لره دي

- **التحيات:** د تحية جمع ده او تحية: تعظيم ته ويل کيږي او معنا يې ده: د تعظيم د ټولو ډولونو وړ يوازې الله دی.
- **الصلوات:** يعنې هغه لمونځونه چې موږ يې پيژنو، او داسې هم ويل شوي چې معنا يې ده: ټولې بلنې (دعاګانې).
- **الطيبات:** نيک عملونه دي چې الله تعالى ئې قبلوي؛ هغه که ويناوې او يا کړنې وي، او معنا يې داسې ده چې الله تعالى له پاکيزه وو پرته بل څه نه قبلوي؛ ځکه چې الله پاک دی او يوازې پاکيزه څيزونه قبلوي.
- **السَّلامُ عليك أيُّها النَّبيُّ ورَحْمَة اللهِ وبَركاتُه:** دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم لپاره د خوندیتوب دعا ده، چې د مصيبت څخه د خلاصون معنى لري، او په رحمت سره، هغه څه ترلاسه کيږي چې انسان يې غواړي، او برکت د ټولو ښېګڼو زياتوالى دی.

د تشهد د معنی تشریح

- **السَّلامُ عَلَيْنا وعلى عِبادِ اللهِ الصّالِحِينَ:** يعني سلام دي وي پر مورِ او د الله تعالى په نېکو بندګانو؛ نیک بندګان هغه دي چې د الله تعالى او د هغه د بندګانو حقونه ادا کوي، له پیغمبرانو، ملائکو او مومنانو څخه. دا د لمونځ کوونکي او د هر صالح بنده لپاره له آفتونو څخه د خوندیتوب دعا ده.

- **أشهَد أن لا إله إلّا الله:** ګواهي ورکوم چې له الله پرته بل حق معبود نشته.
(أَشْهَد) يعني: په زړه اقرار، په ژبه وینا، او په غړو عمل کوم.

- **"لا إله إلا الله" :** له الله جل جلاله پرته بل حق معبود نشته.

- **وأشهَدُ أنَّ مُحمَّداً عَبْدُهُ ورَسولُه:** يعني پدې اقرار کوم چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله بنده دی، نو بندګي يې نه کيږي، او د الله لخوا پېغمبر دی نو دروغ نه ګڼل کيږي، بلکې اطاعت او پيروي يې کيږي.



پوښتنې:

س١: د لاندې کلمو معنا تشریح کړئ: (التَّحِيّات) ، (الصَّلَواتُ) ، (الطَّيِّباتُ).

س٢: زموږ پدې وینا کې له نبي څخه مراد څوک دی چې و ایو: (السَّلامُ عَلَيْكَ أيُّها النَّبيُّ وَرَحْمَة اللهِ وبَركاتُه)؟

س٣: (لا إله إلّا الله) څه معنا؟

س٤: (أشهَد أنَّ محمَّداً رَسولُ اللهِ) څه معنا؟

(اللَّهمَّ صلِّ على محمَّدٍ وعلى آل محمَّدٍ، كما صَلَّيْتَ على إبراهِيمَ وعلى آل إبراهِيمَ، إنَّك حمِيدٌ مَجِيدٌ، وبارِك على محمَّدٍ وعلى آلِ محمَّدٍ، كما باركْتَ على إبْراهِيمَ وعلى آلِ إبْراهِيمَ، إنَّك حَمِيدٌ مَجِيدٌ).

«يا الله! پر محمد صلى الله عليه وسلم او د هغه پركورنۍ رحمت وورووه، لكه پر ابراهيم عليه السلام او د هغه پركورنۍ دې چې ورولې و، بېشكه ته ستايل شوى او لوى يې. يا الله ! پر محمد صلى الله عليه وسلم او د هغه پر كورنۍ بركتونه وورووه، لكه پر ابراهيم - عليه السلام - او د هغه پركورنۍ دې چې ورولي وو، بېشكه ته ستايل شوى او لوى يې».



٤٤- ښوونكې ته!

- ښوونكى له دې لوست څخه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سيرت د يوې برخې د بيانولو، او د زده كوونكو په زړونو كې له هغه سره د محبت پيدا كولو، د هغه پيروى كولو او له سرغروني څخه يې د ډډې كولو په موخه كتبه پورته كوي، ځكه چې د هغه په پيروى كې لويه بريا ده، او په معصيت او مخالفت كې يې هلاكت او ښكاره كمراهي ده، همدا رنګه يې په رسول الله صلى الله عليه وسلم زياد درود ويلو ته هڅوي.
وكورئ: جَلاء الأفهام في فَضْل الصَّلاةِ والسَّلامِ على محمَّد خيرِ الأنامِ د ابن القَيّم الجوزيّه رَحِمَه الله كتاب.

- **اللَّهُمَّ:** يعني اې الله.
- **صَلِّ على محمَّد:** پر محمد صلى الله عليه وسلم درود ووايه: يعنى په پورته مخلوقاتو کې يې ستاينه وکړه.
- **آل محمد:** د محمد صلى الله عليه وسلم خپلوان او د هغه د دين پيروان دي.
- **وبارِك على محمَّد:** يعني برکت پرې نازل کړه، چې هغه د خپر ډيروالى دى.
- **حَمِيدٌ: يعني:** ستايل شوى، څكه چې هغه د كمال په صفتونو او لويو انعاماتو سره ياد شوى دى.
- **مَجِيدٌ: يعني:** هغه څوک چې جلال او عظمت لري.



پوښتنې:

س١ - د لاندې لغتونو معنا بیان کړئ: (اللَّهمَّ) ، (حَمِيدٌ) ، (مَجِيدٌ).

.....

.....

.....

.....

س٢ - تش ځایونه ډک کړئ:

١ - د الله تعالى له طرفه پر محمد صلى الله عليه وسلم د درود معنا:

.....

٢ - آل محمد:

.....دي

٣ - برکت عبارت دی له:

.....

٤ - (حَمِيدٌ)، او (مَجِيدٌ) دوه نومونه دي د:

.....

